# د حضرت میر کاکا کیسې

فولکلوریکه پانګه



Ketabton.com

لیکوال: شېرشاه «همدرد»

۱۳۹۴ لمریز کال

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د حضرت میر کاکا کیسې

(فولکلوریکه پانګه)

لیکوال:

**شیرشاه همدرد**

**۱۳۹۴ل کال**

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحيم

# کتاب پېژندنه:


د کتاب نوم: د حضرت میر کاکا کیسې

لیکـــوال: شېرشاه همدرد

خپرونـدی: د افغانستان ملي تحریك، فرهنگي څانگه

وېـبپـاڼـه: www.melitahrik.com

کمپوز/ډیـزایـن: امید ساحل

پښتۍ ډیزاین: زېور احمد چوپړ

چـاپشمېـر: ۱۰۰۰ ټوکه

چـاپـکـال: ۱۳۹۴ ل کال/ ۲۰۱۵م

د تحریك د خپرونو لړ: (۷۵)

د لیکوال اړیکشمېره: ۰۷۰۸۱۹۸۳۰۲


یادونه: د چاپ حقوق له ملي تحریک سره خوندي دي او د کتاب د محتوا مسولیت لیکوال پورې اړه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ډالۍ

خپل ولس ته چې اوس هم د زړه تسکین په

دودیزو کیسو کوي او د ژمي اوږدې شپې په ولسي

کیسو رڼوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لیکلړ

پر دې کتاب څو کرښې/ ۱
د سرېزې پرځای/ ۵
د حضرت میر کاکا کیسې/ ۹
ژبوره/ ۱۳
زورور! / ۲۵
بد زخم/ ۲۸
د لوی قاضي ننګونه/ ۳۲
ماشومتوب/ ۳۷
د خره پاچاهي/ ۴۲
د سوداګر هوښیاره لور/ ۴۶
سپی د بازار، خر د دربار/ ۵۵
دولت بابا/ ۶۳
ګیدړه او سور لنډی/ ۶۷
لړم او څرمښکی/ ۷۳
د صبر مېوه خوږه وي/ ۷۷
کبر او لویي/ ۸۱
بې ځایه لاپې/ ۸۶
هر څه د املوکو په تول/ ۹۱

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د تحریك یادښت

د افغانستان ملي تحریك د (۱۳۹۳ ل) کال په پیل کې له خپلو ګرانو هېوادوالو سره ژمنه کړې وه چې د دې کال په بهیر کې به (شل عنوانونه) بېلا بېل دیني، علمي، ادبي او ټولنیز اثار خپلې ټولنې ته وړاندې کوي. ملي تحریك دا ژمنه د یاد کال د کب پر (۲۸)مه نېټه پوره او د یوې پرتمینې غونډې په ترځ کې یې شل عنوانونه علمي اثار هېوادوالو ته وړاندې کړل. ملي تحریك په یاده غونډه کې ژمنه وکړه چې د (۱۳۹۴ ل) کال په بهیر کې به انشاء الله د خدای (ج) په نصرت ټول ټال سل (۱۰۰) عنوانه بېلابېل علمي اثار ټولنې ته وړاندې کوي. طبیعي خبره ده چې دا اسانه کار نه دی، ډېر زیات زیار او زحمت ته اړتیا لري، خو ملي تحریك ټینګ هوډ کړی چې خپله دا ژمنه به هم د تېرې ژمنې په څېر عملی کوي. دا اثر چې ستاسو په لاس کې دی د همدې (سل عنوانونو) ژمنه کړو اثارو له جملې څخه دی، چې د چاپ جامه اغوندي. ملي تحریك هیله لري چې له دې اثر څخه به زموږ هېوادوال په زړه پورې ګټه پورته کړي. ملي تحریك له ټولو هغو لیکوالو، ژباړونکو، سمونچارو، مالي او معنوي مرستندویانو او چاپ چارو څخه چې ددې اثارو د چاپ په دې ټول بهیر کې یې یو بل سره مرسته او ملګرتیا کړې او دا فرهنګي بهیر یې بریالی کړی، د زړه له کومې مننه کوي او کور ودانی ورته وایي.

د هېواد د فرهنګ د ښېرازۍ په هیله

د افغانستان ملي تحریك فرهنګي څانګه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پر دې کتاب څو کرښې

د یوې ټولنې د علمي غنا لپاره د قلم پورته کول اړین او مهم اصل دی، هغه نړۍ چې قلم یې ویښولای شي، په انقلابونو نه ویښېږي، بلکې فکري او معنوي انقلابونه نړۍ بدلولای او ویښولای شي. هر کتاب یوه نړۍ ده، د فکر نړۍ، د معلوماتو نړۍ، د فلسفې نړۍ، د تخنیک نړۍ، د هنر نړۍ، د فن نړۍ او دې ته ورته بلا ډېرې نړۍ او جهانونه.

له هر کتاب نه زده کړه کېږي او د هر کتاب د لیکلو زیار د قدر وړ دی، کتاب د پوهې ښار ته د دروازې مثال لري او که موږ وغواړو د پوهې له ښایسته خبر شو او د پوهې د ښکلا ننداره وکړو، نو اړینه ده چې د دې دروازې تقدس ته د درناوي سر ټیټ کړو او د کتاب تقدس ته د قدردانۍ الفاظ زمزمه کړو.

موږ دلته د قدرمن الحاج شېر شاه همدرد صاحب کتاب ((د حضرت میر کاکا کیسې)) مخ ته لرو، ما دا کیسې ټکي په ټکي ولوستلې، په ځای ځای یې خپل وړوکتوب ته یوووړم او د کوچنیتوب نړۍ روڼ او سپېڅلی انځور یې راته مخې ته کېښود. موږ به همداسې له خپلو مشرانو کیسې غوښتلې او

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ډېره لېوالتیا بـه مـو نکلونـه اورېدل. انسـان پـه فطري ډول کیسې خوښوي، کیسې اوري او کیسې وایي، آن تر دې چې د ژوندانه ټول داستان پخپله یوه کیسه ده، موږ همدا اوس د ژوندانه د یوې کیسې اورېدونکي او د بلې کیسې لوبغاړي او اتلان یو.

زموږ په ادبیاتو کې فولکلور یا ولسي ادب د پام وړ موضوع ده، موږ لوستي کم لرل، کیسې مو ډېرې لرلې، یا دا چې لوستي کم لرو او کیسې ډېرې دي، دا هره کیسه له ځانه سره د پند او نصحیت، نیوکې او انتقاد ژبه لري او غواړي انسان ته یو څه ورکړي او له یو څه یې خبر کړي، په تېره د ماشوم د ذهن کرونده د کیسو لپاره ډېره مناسبه ده، ماشوم ته کټوري کیسې اورول نه یوازې دا چې د هغه د پوهې په پیاوړتیا کې رول لري، بلکې په هغه کې د فکري پرمختګ او نبوغ ځواک پنځوي او د ذهن چینه یې د افکارو د تولید لپاره اماده کوي.

البیرټ انشټاین وایي: ((که تاسې غواړئ چې ماشومان مو هوښیار وي، د ښاپېرو کیسې ورته وکړئ، او که غواړئ چې لا ډېر هوښیار وي، لا ډېرې د ښاپېرو کیسې ورته وکړئ))

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دې کتاب کیسې لـه پنده ډکې دي، پـه روانـه، فصـیحه او خـوږه ژبـه لیکـل شـوي، ښـاغلي همـدرد صـاحب هـره کیسـه هنري کړې او کیسې ته یې تصویر ورکړی، هغـه زیـار ګـاللی چې په دغو فولکلوریکو کیسو کې د تلوسې روح ورپو کـړي، لکـه پـه کیسـو کـې د حضـرت میـر کـاکـا کرکټر چـې د ېرې تـه ځـي، د ونـې ډډ تـه تکیـه کـوي، خپلـه امسـا دروي او یـوه ډلـه شوخ ماشومان یې تر خوا د کیسې اورېدو په نیت ورټـول وي. دا هغه تصاویر دي چې د لوستونکي ذوق ویښوي او د کیسې پیغام او اهمیت ته یې رابولي.

زه ویښ، بیدار او خوږ غږی ویاند قدرمن همدرد صاحب ته د دې فولکلوریکو کیسو د تالیف له امله مبارکي وایم، پـه دې هیله یم چې پـه دې مـزل کـې بـه لا ډېـره سـتوماني وګـالي او پـه راتلـونکې کـې بـه دغـه شـان نـورې کیسـې هـم د کتـاب پـه بڼـه ټولنې ته وړاندې کړي.

درنښت

سید امرالله امید

د فرهنګ امر

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د سریزې پرځای

حضرت میر کاکا هغه سمبولیک نوم او خیالي کرکټر دی، چې په پلمه یې ما دغه ولسي کیسې راټولې کړې او د هغه له خولې مې دغه حکایتونه وړاندې کړي دي.

زموږ ټولنه د ولسي کیسو له پلوه خورا بډایه ده، داسې نکلونه او کیسې لري، چې د ژوندانه لپاره ډېر ښکلي پیغامونه لري او خورا له پنده ډکې دي.

دغسې ولسي مرغلرې له کلونو او پېړیو راهیسې په شفاهي ډول سینه په سینه او نسل په نسل یو بل ته انتقالېږي.

همدا علت دی، چې کېدای شي اصلي بڼې یې هم بدلون موندلی وي، خو محتوا او پیغام یې هماغه پخوانی دی. په هېواد کې د ولسي کیسو یا فولکلور راټولولو هڅې شوې

(c) ketabton.com: The Digital Library



دي، خو دا چې ټولې کیسې او نکلونه پکې خوندي شوي وي، تراوسه زما له سترګو د غسې اثر نه دی تېر شوی. کومې کیسې چې ما راټولې کړې، زموږ د بهسودو ولسوالۍ او په لویه کې د ننګرهار په بېلابېلو سیمو کې موجودې دي، ما هغه کیسې راټولې کړې، چې په کتابونو کې مې نه دي لوستي.

په دې وېرېږم، که دغه مرغلرې راټولې نه شي، هسې نه چې د هېرې کندې ته پرېوځي او نابودې شي.

ما هڅه کړې، چې د حضرت میر کاکا په خوله ورته څه نا څه هنري بڼه ورکړم او بیا یې د کتاب په بڼه چاپ کړم، موخه مې دا ده، چې څو ولسي کیسې د مړینې له ګوابنه وژغورم او د حیات اروا وروبښم.

په دې کیسو کې ولسي رنګ، د ژوندانه خوند او څرنګوالی جوت دی. د خلکو ساده ګي، ژور فکر، خویونه او عادتونه هر څه پکې موجود دي.

د دې کتاب په لوستلو سړی په خپل ژوند فکر کولو ته اړ کېږي او هڅه کوي، چې له ریا، تظاهر، غولونې، ناپوهۍ او

(c) ketabton.com: The Digital Library



نورو منفي عادتونو ځان وژغوري، یا لږ تر لږه ما ته همدغسې ښکاري، خو کیسې تل د عبرت لپاره وي، له ماضي څخه د خبرېدو په موخه لیکل کېږي.

د قرآن عظیم الشان یوه برخه هم دیني کیسې تشکیلوي دا کیسې د تېرو حلاتو تصویر وړاندې کوي او د عبرت او انسان پوهونې ښې بېلګې دي.

له بل پلوه د انسان فطرت کیسه خوښوي، ځکه چې ژوند په خپله یوه کیسه ده، له غمونو او خوښیو ډکه کیسه. انسانان په طبیعي ډول لېوالتیا لري، چې د پخوانیو خلکو د ژوند کیسې واوري او د خپل ژوند لوری بدل او یا هم سمه لاره وټاکي.

د هنري کیسو، ناولونو، لنډو کیسو او داستانونو سرچینه هم له فولکلوریکو کیسو او افسانو څخه ده. د دیوانو او ښاپېریو، پیریانو او نالیدلو مخلوقاتو کرکترونه خلکو ته ډېر په زړه پوري وو، د کرکترونو په بدلون او د رښتیني ژوندانه انځورولو لپاره هنري کیسې رامنځته شوې، نو په هر حال

(c) ketabton.com: The Digital Library



فولکلوریکې او ولسي کیسې د پام وړ او له هېرې د ژغورنې حقدارې دي.

هیله ده، چې دا ټولې ولسي راټولې کړې کیسې مو خوښې شي. په دې برخه کې له ځینو دوستانو نه مې هم کیسې اورېدلي او بیا مې د حضرت میر کاکا په حواله وړاندې کړي دي.

د هغو ټولو دوستانو دې کور ودان وي، چې دغه ولسي مرغلرې یې راباندې لورولي دي.

په درنښت

شېر شاه همدرد

جلالکوټ

۱۶/ ۱۲/ ۱۳۹۴

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د حضرت میر کاکا کیسې

حضرت میر کاکا زموږ د کلي تجربه کاره سپین ږیری و، له خبرو او کیسو یې داسې مالومېده، چې د ژوندانه ډېرې سړې تودې یې لیدلي دي او د تجربو په بټۍ کې ښه پوخ شوی دی.

هغه لوراند او زړه سواند سړی هم و، ځوانانو، ماشومانو او د پخو عمرونو خلکو به ورسره یو ډول مینه کوله، کله چې به حضرت میر کاکا پر لاره روان و، د کلي ماشومان به ورپسې شول، تر هغې به یې تنګ کړ، چې د کلي د ډېرې ونې ته ډډه ووهي او هغوی ته یوه کیسه وکړي. هله به د ماشومانو له جنجاله خلاص شو. د ده کیسو ته به په ډېره کې ناست ځوانان او نور مشران هم غوږ وو، خوند او پند به یې ترې اخیسته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوه ورځ ماشومانو او ځوانانو ټینګ ونیو، چې مور ته یوه کیسه وکړه، هغه چې د ماشومانو او ځوانانو په ضد او مزاج پوه و، پرته له دې چې د لمانځه وخت ترې تېر شي ټولو ته یې وویل: راځئ! د بري ته.

مور ټول د بري ته راټول شولو، حضرت میر کاکا امسا پر ځمکه ښخه کړه او ونې ته یې ډډه ووهله، موسکی شو، ویل یې، غوږ راته ونیسئ ورو چې څه درته وایم. ټولو وویل: ښه کاکا غوږ یو هله کیسه پیل کړه.

ویل: و، نه و، یو سړی و، یو زوی یې لره، نور اولادونه یې نه درلودل، زوی پرې ډېر ګران و، سړي دوکانداري کوله او د کور لپاره به یې حلاله روزي پیدا کوله، سړی د وخت په تېرېدو نور هم ضعیفه کېده. خپل زوی ته یې وویل: زویه! اخري عمر مې دی، مخکې له دې چې مړ شم، غواړم تا ته ښځه وکړم، واده دې په خپلو سترګو ووینم.

زوی یې ویل: پلاره څنګه چې دې خوښه وي. سړي خپل زوی ته واده وکړ، بله ورځ سړی سخت ناروغ شو، د مرګي تبه پرې راغله، خپل زوی یې ځانته راوغوښت، ویل زویه! زه مرم خو

(c) ketabton.com: The Digital Library



تا ته درې نصیحتونه او وصیتونه کوم. هغه دا چې زما له مرګه وروسته په اوونۍ کې یوځل واده وکه، دویم: په هر ځای کې ځانته کور جوړ کړه، دریم: دوکان ته د دوکانداری لپاره په سیوري کې ځه او په سیوري کې بېرته کور ته راځه.

سړي چې دا وصیتونه خپل زوی ته وکړل ساه یې ورکړه او مړ شو. زوی یې وارخطا شو، خو د کلیوالو په مرسته د پلار د تکفین او تدفین کارونه یې بشپړ کړل، خیر او خیرات یې وشو. زوی یې ډېر پرېشانه و، چې د پلار وصیتونه به څنګه عملي کوي. په همدې چورت کې د کور نه تر دوکانه د سیوري جوړولو کارونه پیل کړل، ویل یې: دا کار خو کولی شم، نورو سره به بیا ګورم. دی به هره ورځ د سیوري جوړولو په کارونو کې ستړی ؤ، یوه ورځ کوم هوښیار سړي ترېنه پوښتنه وکړه، چې دا څه د لېونیانو کارونه دې پیل کړي؟ ده ورته د خپل پلار د وصیتونو په باب وویل: هوښیار سړی پوه شو، چې هلک د خپل پلار په مقصد پوه شوی نه دی. راځه پوه یې کړه. سړي هلک ته وویل: بچیه د پلار هدف دې دا و، چې هر سهار وختي دوکان ته ځه او لمر پرېواته بېرته کور ته راځه، هم به ګټه وکړې او هم به دې ژوند ښه شي، ځکه یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



درته ویلي په سیوري کې څه او په سیوري کې بېرته راځه. نه دا چې په رښتیا سیوري جوړ کړه.

دا چې په اوونۍ کې یوځل واده وکه، په دې مانا چې اوونۍ کې خپلې مېرمنې سره یوځل کوروالـه کوه، چې هم دې روغتیا ښه وي او هم اقتصاد او دا چې په هر ځای کې کور جوړ کړه، مانا دا چې دوستان ډېر پیدا کړه، چې د ناستې ځای دې پکې وي.

پوه شوې؟ د وفات شوي سړي زوی خوښ شو او هوښیار سړي ته یې دعا وکړه، چې له سرګردانۍ نه دې خلاص کړم. حضرت میر کاکا پاڅېده، جومات ته روان شو او د تګ په وخت کې یې په ناستو ماشومانو او ځوانانو غږ وکړ: واهلکه وړو! پوه شوئ؟ ټولو غږ کړ: هو پوه شو کاکا. ټولو وخندل، ویې ویل: په مخه مو ښه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ژبوره

نن د حضرت میر کاکا تبعه جوړه وه، په خپله خوښه یې ماشومان راټول کړل، ویل یې بچو راځئ! نن درته یوه نوې کیسه کوم. زموږ د کلي ماشومان چې کیسې یې ډېر خوښېدې، ډېر خوښ شول، له خوشحالۍ نه یې ټوپونه وهل.

حضرت میر کاکا په ملا کړوپ د امسا په مرسته بیا دېرې ته راغی، په هاغه خپل پخواني ځای کې کېناست، ویې ویل، بچو! و، نه، و، یو پاچا و، پاچا ځلور ښځې درلودې، خو یوې سره یې هم جوړه نه وه، یانې یوه ښځه یې هم په تبعه نه وه. د پاچا ژوند په کور کې ډېر تریخ و، کله به چې ماښې ته راغی، بیا به یې هم تبعه خټه وه. یوه ورځ یې خپلو وزیرانو ته وویل: راځئ! چې لاړ شو، یو ولایت ته سفر وکړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کاروان تیار شو، پاچا په سفر راووت، تا کلي ولایت ته لانه و رسېدلی، چې ګوري یو بزګر په پټي کې غابنور کوي، ګرمي هم ډېره ده، د سرطان میاشت ده، بزګران د شولو کرلو لپاره تابیا نیسي، له پاسه لمر لکه اور تود شوی او په پټو کې اوبه ګرمې شوي، په داسې یو موسم کې غابنور کول، ډېر سخت کار دی، خو بزګر په همدې غابنور کې ډېر خوښ ښکارېده، له خوښۍ نه یې سندرې زمزمه کولې. پاچا حیران شو، چې په دې بزګر کې څه کمال دی، په دومره سخت کار کې بیا هم خوښ دی، سندرې وایي، زه چې پاچا یم، هر څه نور راته کوي، بیا هم خپه یم، عقل مند وزیر یې راغوښتی، ترېنه یې پوښتنه کړې، چې دا څه حکمت دی؟

عقلمند وزیر ورته ویلي، چې پاچا سلامت، ښه به وي، چې دا پوښتنه له بزګر نه وکړو، د پاچا دا مشوره خوښه شوه، امر یې وکړ، چې بزګر راولئ! حاضر باشانو سمدستي بزګر د پاچا حضور ته راوسته، پاچا له بزګر نه پوښتنه وکړه، چې په دومره سخت کار کې ولې دومره خوشحاله یې، چې سندرې هم وایې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



بزګر وویل: پاچا صاحب! قربان دې شم، په کور کې مې د مېرمنې سره ډېر خوښ یم، کله چې کار کوم، زړه مې ښه وي، په دې هیله یم، چې ښه ستړی شم، په کور کې مې هسې هم ښه دمه جوړېږي.

پاچا بزګر رخصت کړ، حاضر باشانو ته یې امر وکړ، چې په هر قیمت کېږي، زما څلور واړه ښځې د بزګر ښځې سره بدلې کړئ، که یې نه منله ډېرې پېسې او سره زر ورته ورکړئ، که بیا یې هم ونه منله، په زوره یې ترې راولئ.

حاضر باشانو همداسې وکړل، بزګر پسې ورغلل، ورته یې وویل، پاچا دغسې غوښتنه لري، که په خپله خوښه یې بدله نه کړې، په زوره به یې درنه یوسو. بزګر مجبور شو. وایي چې زور قالب نه لري، د پاچا ښځې یې بزګر ته ورکړې او د بزګر ښځه یې پاچا ته راوسته.

بزګر ډېر هوښیار سړی و، ځان سره یې فکر وکړ، چې په دې ښځو کې خو ضرور څه پسات شته، چې پاچا ترې دومره زړه تورن دی. کور ته راغی، له وني نه یې اوږدې لښتې غوڅې کړې، د پاچا څلور واړه ښځې یې ځانته مخامخ کېنولې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ویل یې، ژر شئ! حال ووایئ، چې پاچا له تاسو نه ولې دومره خپه و، چې تاسې یې په یوې ښځې بدلې کړئ، ضرور څه خبره خو شته، که رښتیا ووایئ، څه درته نه وایم او که دروغ مو وویل، ټولې وژنم. د پاچا ښځې هسې هم نازولې وې، له وهلو او مرګه ډېرې ډارېدې، ویل راځئ! رښتیا خبره کوو، هسې مو هم وژني، دروغ ولې ووایو.

یوې وویل، ما د پاچا سره خیانت کاوه، د دې سره سره چې زه د یو پاچا ښځه وم خو بل چا سره مې هم کونډه اچولې وه، ځکه د پاچا نه خوښېدم، بزګر وویل: توبه وباسه بیا داسې ونه کړې، یوې خواته ودرېږه، بدلمنې ښځې توبه وویسته، یوې خواته ودرېده.

بزګر د پاچا دوهمې ښځې ته غږ کړ: ته راشه، ووایه، څه بدکاري دې کوله، چې د پاچا نه خوښېدې؟ د پاچا دویمه ښځه چې پویه شوه، لومړۍ ښځې ته یې په هغومره بدعملۍ څه ونه ویل، زما په رښتیا ویلو به څه ووایي، ښځې وویل: زه د یوې خیرات خورې لور ومه، خیر ټولول مې عادت و، د پاچا په کور کې هر څه و، خو زما عادت و، ډوډۍ به مې له نورو ښځو په سوال غوښتله او بېرته به مې په شکرۍ کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ایښودله، زه له خپل عادت نه مجبوره ومه، خو زما دا کار د پاچا نه خوښېده. بزګر وویل: راشه ته هم د یخوا ودرېږه، توبه وباسه.

درېیمې ته یې وویل: راشه ووایه چې تا څه کول؟ درېیمې وویل: ما به غلا کوله، عادت مې و، د پاچا په جیب کې به چې هر څومره پیسې وې، ما به ترې غلا کولې، ځکه د پاچا نه خوښېدم، دې ته یې وویل: راشه ته هم هغو دوو سره ودرېږه، توبه وباسه.

څلورمې ته یې وویل: راشه ښځې! ته ووایه، چې ولې د پاچا نه خوښېدې؟

څلورمې وویل: زما نوره بدي نه وه، یوائې د پاچا سره مې ژبه کوله، بزګر ژبورې ته وویل: ته بلې خوا ته ودرېږه.

ماشومانو او ځوانانو ته چې د حضرت میر کاکا کیسې خوند ورکړی و، په بې صبرۍ سره یې وویل، ښه کاکا بیا څه وشول؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



حضرت میر کاکا پر خپلې سپینې ږیرې لاس تېر کړ ،ویل: بچو! بزګر ته هسې هم غوسه ورغلې وه، چې ګرانه ښځه ترې پاچا وړې وه او د پاچا ښځې یې نه شوای ساتلای، هغه دریو ته یې رخصت ورکړ، ویل تاسو خپلو کورونو ته لاړې شئ، ژبورې ته یې وویل: ته به زما سره راشې.

ژبوره ښځه یې ځان سره کړه، بزګر له ژبورې نه ډېر په تنګ شو، ویل: له دې ښځې نه به ځان خلاصوم، تصمیم نیسي، چې دا ښځه په کومه دښته کې ووژني او ځان ترې خلاص کړي.

یوه ورځ یې ښځې ته وویل: راځه! چې چېرته ځو، ښځه یې ځان پسې روانه کړه، مزل کوي، ښځې ورته ویلې، چېرته مې بیایې، ځای خو راوښایه، بزګر ویل، د دې پاچا له پاچاهۍ نه وځو، بس چېرته چې د دې پاچا حکمراني نه وی، هلته ژوند کوو، ښځه ډېره ستړې شوې وه، بزګر ته وایي، ستړې هم یم او تږې شوې هم یم لږ به دمه شو. بزګر ورته وویل، راځه، چې ځای یې راغی بیا به دمه شو، ګوري، چې په دښته کې یوه ژوره څاه ده، ښځې ویلې، سړیه دې کوهي نه راته اوبه راوباسه، چې له تندې مرم، سړی چې کوهي ته کتلي، ځان

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره يې ويلي، همدا يې ځاى دى. سړي خپله پګړۍ ښکته کړې، خو اوبو ته نه ده رسېدلې، ښځې ته يې ويلي، ټيکرى دې راکه، چې پګړۍ پورې يې غوټه کړم، بوکه خو هسې هم نشته، ټيکرى چې دې لوند شي وبه يې زبېښو، ستا تنده به خړوبه شي، ښځې ته يې ويلي، دا څادر او ټيکرى په خپله کوهي ته ښکته کړه، ښځې چې کوهي ته سر ټيټ کړى، بزګر ټيل وهلې ده، لاندې کوهي ته يې غورځولې ده او ځان يې ترې بېغمه کړې. بېرته راغلى کور ته، بزګر ډېر خپه دى، بس وزې او مېږې يې اخېستي، رمه يې جوړه کړې او سر په سحرا شوى. کال وروسته په هماغې دښتې ورپېښ شوى، تږى شوى، هماغه کوهي ته ورغلى، خپله پګړۍ يې ښکته کړې ده، چې ګوري پګړۍ پورې يو ديو نښتى، ډار شوى، زړه يې و، چې پګړۍ پرېږدي، ديو بېرته وغورځوي، ديو ورته زارۍ کړې، چې له دې کوهي نه مې وباسه، زه به تا سره ډېرې ښېګڼې وکړم، بزګر چې اوس چوپان شوى، ديو يې له کوهي نه ويستلى، ديو ورغاړې وتى، ډېره خوښي يې ښکاره کړې، چوپان ترې پوښتنه کړې، چې ولې په کوهي کې دومره خپه وې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



ویل، قسم دی، یو کال کېږي، دې کوهي ته یوه ژبوره ښځه راغلې، زاره یې راکې چولې، شپه او ورځ جنګ کوي، اوس راته ووایه چې د دې ښېګڼې په بدل کې څه مرسته درسره وکړم، چوپان ویلی، کور دې ودان که اړتیا پېښه شوه، بیا به یې درته ووایم، دیو ویلي، چوپانه! زه به لاړ شم، د پاچا په لور به کېنم، چې د دنیا طبیبان او پاړوګران راولي، زه به نه پاڅېږم، خو کله چې ته راغلې، زه به پاڅېږم، پاچا به ډېر بخششونه درکړي، چوپان ویلي، سمه ده، بس ورځه پرې.

دیو تللی، د پاچا په لور کښېناستلی، د پاچا د لور رنګ ورځ تر بلې زېړېږي. د دنیا طبیبان، پاړوګران، ملنګان او دمګران یې راوستي، نجلۍ ښه شوې نه ده، چوپان د ملنګ په جامه کې ورغلی، ویلي زه خلک دموم، الله ج ورته شفا ورکوي.

پاچا خبر شوی، امر یې کړی، چې دا ملنګ راولئ! ملنګ د پاچا حضور ته ودرول شوی، پاچا ویلي، ملنګه، زما لور وګوره، نه په دم ښه کېږي، نه په دعا او دوا – که ستا په دم ښه شوه، دا لور به مې هم درکړمه او نیمه پاچاهي به هم درکړم. ملنګ ویلي، توکل په خدای ج.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ملنګ او دیو، خو خبره یوه وه، ملنګ ځان سره بونګیدلی، دیو له نجلۍ نه پاڅېدلی، چوپان ته یې ویلي ګوره! یوه نیکي دې راسره کړې وه، یوه مې درسره وکړه، زه ځم د بل پاچا په لور کېنم، چې هلته راپسې را نه شې، که راغلې وژنم دې.

چوپان ویلي سمه ده، نه به درځم. د پاچا لور ورځ تر بلې غوړېږي، روغه شوې ده، په دربار کې شهنایي غږول کېږي، د خوښیو مراسم دي، بس پاچا خپله ژمنه پوره کړه، ملنګ ته یې هم خپله لور ورکړه او هم یې نیمه پاچاهي.

دیو لاړ د بل هېواد د پاچا پر لور کېناست، هلته هم غوغا جوړه شوه، د پاچا لور ناروغه ده، د دنیا طبیبان راغلل، ښه نه شوه. پاچا خپل وزیران راوغوښتل ویل، وزیرانو! زما د لور د ناروغۍ چاره کول په کار دي، څه باید وکړو. کوم هوښیار وزیر وویل: پاچا سلامت! د فلاني هېواد د پاچا لور هم ورته ناروغي لرله، یو ملنګ راغی، دم یې کړه، ښه شوه. اوس هغه ملنګ د پاچا زوم دی، د پاچا زوم که راولو، کېدای شي دا هم ښه کړای شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پاچا خوښ شو، بل پاچا ته یې قاصد ولېږه، ورته یې وویل: که ستا زوم زما لور ښه کړه، زه به خپله ټوله پاچاهي ورته بخشش کړم. پاچا خپل زوم راوغوښت او د بل پاچا غوښتنه یې ورته واوروله. د پاچا زوم خو په دې پوهېده، که دیو پسې لاړ شي، دیو به یې ووژني. انې بانې یې ډېرې وکړې، خو د پاچا حکم و، باید تللی وای، د پاچا زوم مجبور شو، چې لاړ شي.

چوپان یانې د پاچا زوم د بل هېواد پاچاهۍ ته ورغلی، پاچا ورته کیسه کړې ده، چې د غسې لور مې ورځ تر بلې زېږېږي، ته یې دم کړه، که خدای ج ښه کړه، ټوله پاچاهي به درکړم. د پاچا زوم ویلي: زه یو شرط لرم، پاچا ورته وویل: ستا هر شرط منم، د پاچا زوم وویل: شرط مې دا دی، چې ما به د ناروغې سره یوائې پرېږدئ، زه یې چې دموم، باید هېڅوک هم موجود نه وي.

پاچا شرط منلی، د پاچا زوم چې د بل پاچا د لور کوټې ته ننونی، د دیو سترګې پرې لګېدلي، دیو پرې په قهر شوی، ورته یې ویلي، اوس خو دې بې مرګه نه پرېږدم، ما خو تا ته ویلي و، چې بیا به راپسې نه راځې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پاچا زوم هوښیاري کړې، دیو ته یې ویلي، دیو وروره! تا ما سره دومره ښه وکړل، چې زه اوس د پاچا زوم یم، اوس د دې لپاره نه یم راغلی، چې تا ته ووایم، د پاچا له لور نه پاځېږه.
دیو په غوسه شوی، ویلي، نو څه لپاره راغلی یې، د پاچا زوم ورته ویلي، راغلی یم، چې د دوستۍ حق دې اداء کړم، غوږ رانږدې کړه، چې درته یې ووایم، د یو چې غوږ ورنږدې کړی، د پاچا زوم ورته ویلي: هغه ژبوره ښځه له کوهي نه راوتلې او تا لټوي، نور دې خوښه خپله، دیو پاڅېدلی، پاچا زوم نه یې مننه او هم غوښتنه کړې، چې خدای ج ته وګوره، ښځې ته زما ادرس ونه ښیې، زه لاړم په خپله مخه.
دیو نامالوم لوري ته تښتېدلی، نجلۍ ښه شوې، په دې پاچاهۍ کې هم د خوښۍ شهنایي غږول شوې او په ټولو هېوادونو کې هنګامه ګډه شوې، چې د فلاني پاچا زوم داسې کمال لري، چې دیو پاڅولی شي، بزګر له غمه چوپان شو، چوپانۍ نه وروسته د پاچا زوم او د نیمې پاچاهۍ خاوند شو او دا دی، د یو هېواد پاچا شو.
پوه شوئ وړو! ځئ! نور نو بدي یې د هغو شي او ښېګڼه یې زمونږه، زه لاړم چې د لمانځه وخت دی.
ماشومانو او ځوانانو غږ کړ! په مخه مو ښه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# زورور

مازیګری دی، نری نری باران ورېږي، حضرت میر کاکا امسا په لاس د جومات خوا ته روان دی، د کلي ماشومان ورپسې دي، کیسه ترې غواړي.

حضرت میر کاکا دېرې خوا ته تاو شو، ویل راځئ بچو! چې ستاسې له غم نه ځان خلاص کړم. ماشومانو د خوښۍ نه چیغې کړې، هله کاکا کیسه وایي، کاکا کیسه وایي! بس په همدې چغو، نارو، سورو حضرت میر کاکا دېرې ته ورسېد، د ونې ډډ ته یې ډډه ووهله او کیسه یې پیل کړه:

و، نه، و، یو پېری و، د بر کلي د زړې کلا په یوه زوړ برج کې اوسېده، کله، کله به د کلي پر ځینو نجونو کېناست او ډېرې به یې وځورولې، د کلي پاچا صاحب چې به راغی، دم او دعا به یې وکړه، پېری به پاڅېد. بله ورځ به په بل چا کېناست او یا

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم پر هماغې جلۍ به بیا کېناست، پاچا صاحب ترې پوښتنه وکړه، چې دا جلۍ ولې څوروې؟ پېري به ویل: زه پر دې نجلۍ مئین یم، پاچا صاحب څو ځلي پېري ته ګواښونه وکړل، ویل که بیا دې نجلۍ وځوروله په اور به دې وسوځوم. پاچا صاحب ویل، دا پیری ډېر زورور دی، پاڅول یې ډېر زور غواړي. بیا به یې غټه شکرانه واخیسته، خو کلونه تېرېدل، پیری له نجلۍ نه لاس په سر نه شو، پاچا صاحب غوسه شو او پیری یې کلک وتاړه، هغه دمونه یې پرې چوفول چې پیری باید وسوزوي، پیري پاچا صاحب ته زارۍ او ننواتې وکړې، چې دا ځل مې وبخښه، بیا به داسې ونه کړم او ستا به هم په کار شم، له دې کلي نه به لاړ شم. که چا درسره زورزیاتی کاوه، زما یو وېښته دود کړه، زه به درته حاضر شم. وایي چې پاچا صاحب د پېري سره په همدې موافقه وکړه.

یوه ورځ پاچا صاحب له قصاب نه غوښه اخیستله، په پیسو قصاب ورسره جنجال وکړ، قصاب پاچا صاحب سم نه و پېژندلی، بد بد یې وواهه، پاچا صاحب د پېري ویښته دود کړ، پېری حاضر شو، ویل پاچا صاحب امر کوه، څه وکړم؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



پاچا صاحب ورته وویل، هغه مخامخ قصاب ګورې، بد بد یې ووهلم، ورشه په قصاب کښېنه او ښه بد بد یې ووهه! پېرې چې قصاب ته وکتل، کنجکونه او چړې یې ولیدې وډار شو، ویل پاچا صاحب! قربان دې شم، هغه سره خو چړې، تبرګي او کنجکونه دي، زور مې پرې نه رسېږي، خو که غواړې کوم غریب کچالو فروش یا بل دوکاندار به درته چپه کړم، پاچا صاحب پیرې ته بد بد وکتل، رخصت یې کړ ویل: یاره رښتیا یې ویلي دي چې: (په بره خېژي اشنا تل د زورورو اوبه)

ماشومانو وخندل ویل: کاکا یعنې په زورورو د چا زور نه رسېږي، ویل یې په کومه ټولنه کې چې قانون سم تطبیق نه شي، هلته د زورورو هر زور چلېږي، خو که قانون وي، زورور په خپله له زوره لوېږي او خلک یې له شره ژغورل کېږي.

ځئ! بچو خدای (ج) دې زموږ په وطن کې قانون حاکم کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د زخم

نن بیا حضرت میرکاکا د دېرې د ونې ډډ ته ډډه وهلې وه، امسا یې ترڅنګ ایښې وه، ماشومان او ځوانان ترې چارچاپېره ناست وو، ټولو په بې صبرۍ د حضرت میر کاکا له خولې کیسې اورېدو ته په تمه وو. حضرت میر کاکا چې به د څو قدمونو مزل وروسته کېناست، ډېر به ستړی ښکارېده، ساه یې بنده بنده کېدله، پر ناستو ماشومانو او ځوانانو به یې غږ کړ: وا هلکه وړو! لږ غلي شئ. ستړیا مې ووځي، کیسه درته کوم.

ناستو کسانو ویل: سمه ده کاکا موږ غلي یو.

حضرت میرکاکا کیسه داسې پیل کړه!

(c) ketabton.com: The Digital Library



و، نه و، یو سړی و، د ښکار سره یې ډېر شوق و، یوه ورځ ځنګل ته د ښکار پسې تللی و. په ځنګله کې لاره ترې غلطه شوې وه. حیران و، چې له ځنګله نه څنګه راووځي، شپه پرې راغله، د ځنګله ځناورو ورته ګواښونه پیل کړل، ناڅاپه یو دیو پرې راپېښ شو. حضرت میرکاکا لنډه دمه وکړه، ماشومانو او ځوانانو بیا پرې غږ وکړ: ښه بیا څه وشول؟ حضرت میرکاکا ویل، د سړي بخت ښه و. دیو ټول ځناور وشړل او د سړي سره یې دوستي شوه. دیو به خواړه او هر څه برابرول او انسان ته یې د خوراک لپاره راوړل، کلونه تېر شول، د دیو او د انسان ژوند په ځنګله کې تېرېده، بس دیو به ګټله او انسان به څټله.

یوه ورځ دیو ناوخته راغی، ډیر ستړی او ستومانه و، د انسان خوا ته چې راغی، کېناست، خپله ستړیا یې وویستله، خوله یې خلاصه کړه او د ستړیا د رفع کولو لپاره یې اوږده ساه واخیسته، انسان ورته وویل: اُهو دیو وروره! دا خوله دې ډېر مردار بوی کوي، دا خو لږ پاک ساته. دیو غوسه شو او هم خفه. تبر یې واخیست، انسان ته یې وویل: په دا تبرمې په سر ووهه، چې مات شي، انسان وډار شو، ویل دا کله شونې ده،

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا کار نه کوم. د دیو سترګې له ډېرې غوسې سرې شوې، په قهر یې وویل: که په دې تبر مې سرمات نه کړې، وبه دې وژنم او خام به دې وخورم، هله شابه سر مې مات کړه. انسان مجبور شو، تبر یې واخیست او دیو یې په سر وواهه، سر یې پرې مات کړ، دیو انسان ته مخ راواړوه، ویل انسانه،کار دې کوه، کار مې کوم، زما او ستا ترمنځ هېڅ ډول اړیکه نشته، دیو لاړ په خپله مخه او انسان هماغلته پاتې شو، د ځنګله نورو ځناورو د دیو له وېرې انسان ته څه نه ویل.

د ناستو کسانو تلوسه لازیاته شوه، ویل بنه بیا څه وشول؟ حضرت میر کاکا ویل، دوه کاله وروسته دیو په هغه لاره تېرېده، ګوري چې انسان ډېر خپه ناست دی، د انسان سترګې چې په دیو ولګېدې، خوښ شو، دیو ته یې غېږه ورکړه او د خوښۍ په انداز کې ورته وویل: دیو وروره! څنګه یې؟ هغه زخم دې اوس څنګه دی؟

دیو خپل سر ورته ټیټ کړ، ویل: انسانه وګوره! هغه زخم اوس ټول ښه شوی، خو قسم درته کوم، چې د خبرې زخم دی اوس هم پرهر دی او لا مې زړه جوړ شوی نه دی. دیو دا خبره وکړه او په خپله مخه روان شو، انسان هم له ځنګله نه لاړ کور ته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا وه کیسه، نیکي دې مونږ ته وي بدي دې ځناورو ته!

ناستو ماشومانو پوښتنه وکړه، دا خو دې ډېره ښه کیسه وکړه. حضرت میرکاکا ویل بچو! دا مې ځکه تاسو ته وکړه، چې کله چا ته خبرې کوئ، سنجیده یې وکړئ، اول یې په مغزو کې له فکر کولو وروسته ښه تصفیه او بیا یې وکړئ، نو هېڅکله به دوستان له تاسو نه خپه نه شي.

ټولو ناستو کسانو غږکړ! ښه کاکا همداسې به کوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د لوی قاضي ننګونه

حضرت میر کاکا سر پر زنګانه او لاس پر امسا ایښی و، خپه مالومېده، د کلي ځوانان او ماشومان بیا ترې راتاو شوي وو او ترې د کیسې اورولو غوښتنه کوله. حضرت میر کاکا ته چا دروغ ویلي وو، ځکه ډېر خپه و، ویل دا خلک ولې دروغ وایي، فکر کوي نور خلک پرې نه پوهېږي، خو زه دروغجن مالومولی شم. ناستو ماشومانو او ځوانانو وویل: هغه څنګه؟

حضرت میر کاکا وویل: ځکه زه تجربه لرم او په همدې اړه غواړم تاسې ته کیسه وکړم، ټولو چک چکې کړې، خوشحاله شول، چې حضرت میر کاکا کیسه اوروي.

حضرت میر کاکا ویل: په کوم کلي کې درې ورونه وو، یو پکې غل و، کله چې پلار یې وفات کېده، خپل زامن یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



راغونډ کړل، ویل: زامنو! زما د کټ هرې پښې لاندې د سرو یوه سکه ده، زما له مرګه وروسته هغه واخلئ او په خپلو کې یې سره وویشئ، همدې خبرې په کولو سره ومړ.

په زامنو کې یې یوه تن یوه سکه غلا کړه، درې واړه یو پر بل دعوه وکړه او یو پر بل مدعي شول، خبره قاضي ته لاړه، قاضي هم د دوی پرېکړه ونه شو کړای، ځکه درې واړه مدعیان وو، نه شوای کوالی یوه ته قسم ورکړي. خبره ډېره غټه شوه، پاچا ته ورسېده، پاچا لوی قاضي ته امر وکړ، چې غل مالوم کړي، که نه، خپله دنده به له لاسه ورکړي. لوی قاضي خپه او پرېشانه کور ته راغی، لور یې ترې پوښتنه وکړه، پلار جانه ولې خپه یې؟ پلار یې د تېرې شوې پېښې ټوله کیسه ورته وکړه، لور یې وویل: پلار جانه، دا خو اسانه ده، مه پرېشانه کېږه، په غوږ کې ورته څه وویل: لوی قاضي ډېر خوشاله شو، درې واړه مدعیان یې ورونه یې راوغوښتل، ځانته یې مخامخ کېنول، لور یې د پردې شاته کېناسته، قاضي دوی ته وویل: زه تاسو ته یوه کیسه کوم، بیا یې په اړه یوه پوښتنه هم کوم، ځواب راکړئ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



مدعیانو ورونو وویل: قاضي صيب سمه ده. قاضي وويل: په یوه کلي کې یوه ډېره حسینه نجلۍ وه، د وادہ په اوله شپه کله چې خاوند یې غوښته ورسره یوځای شي، نجلۍ ډېرې وژړلې، مېړه یې ترې پوښتنه وکړه، چې ولې ژاړې؟

نجلۍ ویل، بس څه یې کوې؟ پرېږده، چې په زړه کې مې وي، خاوند یې په قهر شو، چې ولې نه وایې، وایه.

نجلۍ وویل: ژاړم په دې چې زما یل څوک خوښېده او واده مې له تا سره وشو. سړي وويل: یاره نجلۍ! تا چې دومره جرئت وکړ، زما د خور پرځای یې، د واده په همدې جامو کې څوک چې دې خوښېږي، هغه ته لاړه شه، نجلۍ د واده په جامو کې د هغه هلک کورته روانه شوه، په لاره کې یوه ډله غله ناست و، نجلۍ چې یې لیدلې، خوښ شوي، چې ښکار خو پیدا شو.

نجلۍ په ژړا شوې او غلو ته یې خپله کیسه کړې، دغلو هم پرې زړه سوی، پرېښې یې ده، د هلک کور ته چې رسېدلې، هلک حیران شوی، چې دا څنګه پېښه شوه، نجلۍ هلک ته کیسه وکړه، هلک له ډېرې خوښۍ نه د ناوې جامې ویستلې

(c) ketabton.com: The Digital Library



او خپلې خور ته یې ور په تن کړي، ویلي هغه چې دومره ځواني وکړه، دا ښه یې راسره وکړل، زه به دا ښېګڼه ورسره وکړم، خپله خور به ورته ورکړم.

خور یې چې د ناوې په جامو کې د هغه شاوو کور ته روانه شوې، دا هم په غلو اوښتې، غلو ویل: دې نجلۍ دروغ ویلي اوس به یې ولوټو! نجلۍ نه یې پوښته کړې، چې ته خو اوس په دې پلمه لاړې ببرته ځنګه راغلې، نجلۍ ټوله کیسه ورته کړې او ورته ویلي، چې زه هغه نجلۍ نه یم بلکې د هغه هلک خور یم، چې خپلې میني ته ورسېد، خو غلو بیا پر نجلۍ رحمېدلي پریښې یې ده د شاوو کورته. شاوو هغه سره نکاح وکړه، قاضي له درې واړه ورونو نه پوښتنه کړې، چې په دوی کې چا ښه وکړل، شاوو، مئین ،که غلو؟

یوه ورور ویلي، شاوو ښه وکړه، ځکه خپله ښځه یې مئین ته ورکړه، بل ورور ویل، نه مئین ښه وکړه، ځکه دومره انسانیت پکې و، چې خپله خور یې شاوو ته ورکړه، درېیم ورور وویل: نه غلو ښه وکړه، ځکه که غلو نه وه پرېښې، تیاره مړې وه، د قاضي لور د پردې له شا نه پرې غږ کړی، چې غلو ښه کړې، ته هم ښه وکړه او هغه سره چې دې اخیستې هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورکړه، غله وویل: بلکل یې ورکوم، ځکه ټول غله خو هم بد خلک نه دي.

حضرت میر کاکا ویل، زما تجربه دا ده، غل به د غلا صفت کوي، شرابي به د شرابو، بدلمنه خلک د بدلمنو، هر څوک د هر څه په باب له خپلې دیدګاه نه خبرې کوي، نو ځکه باید دروغ ونه وایي، ځکه خلک یې پېژني او پرې خاندي او هم وروسته پرې ملنډې وهي.

حضرت میر کاکا پاڅېده روان شو او ناستو خلکو ته یې وویل: ځئ بچو! چې هېڅکله هم دروغ ونه وایئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ماشومتوب

نن د معمول خلاف حضرت میر کاکا په خپله د کلي پر هلکانو او ځوانانو غږ وکړ، چې کیسه به ورته وايي! د کلي ماشومان او نوي ځوانان هم په بې صبرۍ د حضرت میر کاکا پسې شول، چې د کلي د پرې ته لاړشي او کیسه واوري.
حضرت میر کاکا لږ څه غمجن ښکاریده ،ویل یې بچو ! نن تاسوته د پند نه ډکه کیسه کومه ،ښه به ورته غوږ ږدئ، شور به نه کوئی چې بیا تاسې داسې څه ونه کړئ چې د خلکو د خندا شئ . ټولو ویل ،ښه کاکا ،خو ژر شه کیسه وکړه .

حضرت میر کاکا بیا امسا پر ځمکه ښخه کړه دستړیا په حال کې یې د وني ډډ ته ډډه ووهله ویل یې ،رانږدې شئ بچو !د کلي ټول ماشومان او تنکي ځوانان د حضرت میر کاکا شاخوا راټول او غلي کیناستل چې له حضرت میر کاکا نه کیسه

(c) ketabton.com: The Digital Library



واورې . حضرت میر کاکا کیسه پیل کړه .ویل بچو! زورور خان زموږ د کلي خان او مالداره سړی و ، خدای(ج) هر څه ورکړي وه خو زوی یې نه درلوده ، درې ودونه یې وکړل ،یوازې لونې به یې په نصیب کیدلې ،کله یې چې څلورمه ښځه وکړه خدای(ج) ورته یو زوی ورکړ ده له ډیره نازه په خپل زوی باتورخان نوم کېښود ،باتورخان ډیر نازولی و ، ماشوم ورو ورو په خبرو راغی، د ماشوم په هرې خبرې او پوښتنې سره به زوروخان وغوړیده او بیا به یې له نازه ښکل کړ باتورخان به یې په غیږ کې ټینګ ونیوه او بیا به یې په جان وقربان دواړه مخونه ښکل کړل.

یوه ورځ زورورخان خپل زوی باتورخان ځان سره جومات ته راوست زمونږ د کلي په جومات کې یوه غټه ونه چې د مرغیو ډیرې ځالې پکې وې، باتورخان به په نیمکۍ ژبه له پلار نه پوښتنه وکړه! پلاره، پلاره، هغه چیشی دی؟ زورور خان به ماشوم بیا بیا ښکل کړ او په مهربانه لهجه به یې ویل، د مرغیو ځاله ده زوی نه مې ځار شم، بیا به ماشوم ویل، پلاره، مرغۍ چې شی دی؟ بیا به زورورخان له خندا شین شو، ماشوم به یې په غیږ کې ټینګ کړ زما زړګیه! مرغۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



وزرې لري، الوزي، دانې ټولوي او بیا یې د خپلو بچو په خوله کې ورکوي چې ماړه شي.

ماشوم به بیا بله پوښتنه وکړه او پلار به یې په مهربانۍ ورته ځواب ورکړ، ماشوم د یوې مرغۍ او د هغې د ځالې په اړه لسګونه پوښتنې وکړې او پلار به یې په ډېرې مهربانۍ ورته ځواب ورکاوه.

ماشوم ورو ورو لوئېده، ځوان شو، د خان نازولی زوی و، زورور خان سپین ږیری کېده، خو د خپل زوی په هیله د ژوند ساه اخېستله، کلونه تېر شول، زورور خان په ملا کړوپ بوډا شو او باتور خان په مټ قوي ځوان.

یوه ورځ دواړه له اذانه څو شېبې مخکې جومات ته راغلل زورور خان د جومات پر برنډه کېناست خپله امسا یې ترڅنګ کېښوده، پر باتور خان یې غږ وکړ، باتوره! و باتوره! زویه لږې اوبه راوړه ډېر تږی یم، باتور خان چې د ځوانۍ په نشه مست و، له ډېره نازه وروسته یې خپل پلار ته اوبه راوړلې. پلار یې باتور له لاسه ونیوه ورته یې ویل، زویه! زما ترڅنګ کېنه، چې دمه مې راسته شي. باتور خان اخوا دېخوا کېده، پلار یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوښتنه وکړه، زویه! پاس په ونه کې دا ځالې د څه شي دي؟ باتور خان ورته په تنده لهجه وویل، ته یې نه وینې ړوند یې، د مرغیو ځالې دي که نه! پلار یې وویل، مرغۍ څه ته وایي زویه؟!

زوي یې بیا په قهرجنې لهجې وویل، دا دې لابله! خدای لیونی هم کړې، اوس لا مرغۍ هم نه پېژنې؟

پلار یې وویل: زویه! کله چې ته ماشوم وې، په همدې ځای کې تا د مرغیو او د هغې د ځالې په اړه له ما نه په یوه ساه لسګونه پوښتنې کولې، ما به ستا د هرې پوښتنې په ځواب کې لومړی ښکلولې او بیا به مې په جان و قربان په ډېرې مهربانۍ ځواب درکاوه. دریغه چې نن ته دومره لوی شوی یې، چې زما د یوې پوښتنې د ځواب حوصله هم نه لرې او په دومره زشته لهجه ځواب راکوې. ما دې سړیتوب مالومولو، زما زوی نه یې. باتور خان په ژړا شو او په همدې ژړغونې حالت کې یې وویل: دري ژبو رښتیا ویلي وو، چې:

«دل پدر به بچه از بچه به کو پرچه!» حضرت میر کاکا خپلې اوښکې پاکې کړې ویل بچو! چې تاسې داسې ونه کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د خره پاچاهي

د ثور له کودتاه ایله څو کاله تېر شوي وو، فرمانونه یو په بل پسې صادرېدل، د وخت جمهور رئیسانو، چې یو د بل له وژلو وروسته د چارو واګې ترلاسه کول د اولس د غوښتنو خلاف فرمانونه یې صادرول، د ښځو د ۳۰۰ ولور، د ګروی د له منځه وړلو، د جنایي بندیانو د خوشې کېدو او دې ته ورته نور... خو یو به یې هم په بشپړ ډول نه عملي کېدل.

حضرت میر کاکا چې د جمعې له لمانځه وروسته د کور خواته روان وو، د کلي نوو ځوانانو او ماشومانو ورته په لاره کې بلا زارۍ وکړې، چې موږ ته کیسه ووایه، خو د حضرت میر کاکا تبعه په دې ورځ ډېره خته وه، نه یې غوښتل کیسه وکړي، په ملا کړوپ، امسا په لاس د تګ سرعت یې لږ زیات وو، د کلي هلکان پوه شول، چې حضرت میر کاکا کیسه نه وایي او ځان باسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مخې ته یې ودرېدل، ویل، کاکا چې کیسه ونه وایې، کور ته تللی نه شې، حضرت میر کاکا چې د کلیوالو ځوانانو ټینګار او سر زوري ولیده، موسکی شو، ویل نه مې پرېږدئ نو؟

هلکانو ویل، خیر دی، وی وایه، حضرت میر کاکا غاړه صافه کړه او د هو سر یې وښوراوه، ویل، په ځنګله کې د زمري پاچايي وه، نور ټول حیوانات به له زمري نه ډېر ډارېدل او د زمري هر امر به یې منل، آن تر دې چې په کوم ځای کې زمری اوسېده، نورو حیواناتو به له ډاره په هغه طرف هم نه ورتلل، یوه ورځ خر د ځنګله په یوه ځنډه کې څرېده، او همداسې ورو، ورو مخکې تله، ګوري، چې زمری پروت دی، خر ډېر وډار شو، زړه یې ؤ، چې وتښتي، ځان سره یې سوچ کړی، که وتښتم، زمری به راپسې شي او وبه مې خوري، راځه ځان په څرېدا بوخت وښایه. ګوندې د زمري دربانديې زړه وسوځي او فکر وکړي، چې په غلطی کې دلته راغلي یم.

خر چې زمري ته نږدې شوی، زمري هېڅ عکس العمل نه دی ښودلی، خر زړور شوی، ښه نږدې شوی، ګوري، چې زمری مړ پروت دی، خر ډېر خوشحاله شوی، چرت ورغلی، چې راځه د زمري څرمن راوباسه، وایې غونده او په نورو حیواناتو

(c) ketabton.com: The Digital Library



حکومـت وکـړه، همداسـې یـې کـړی، د زمـري ځـرمن یـې ویستلی، په ځپله یې اغوستی، پاچاهي یې پیل کړې ده. په اول ځل فرمان یې صادر کړی، چې لـه دې وروستـه بـه د یـوې میاشتې لپـاره هر حیـوان د پاچـاهۍ چـارې پرمخ وړی. نـورو حیوانـاتو ځپـل وار تېـر کـړی، د خر نوبـت رارسـېدلی دی، د پاچا فرمان ورته ابلاغ شوی، خر ډېر خپه شوی، چې پاچـاهي خـو زمـوږ کـار نـه دی، هغـه د زمـري زړه غـواړي، زه بـه څنګـه کوم، د نـورو حیونـاتو بـه ملتیـا پاچـا تـه راغلـی ، پاچـا تـه یـې ویلـي، قربـان دې شـم، زه پاچـاهي نـه شـم کـولی، دا ستاسـو صفت دی، لـه لـوریني مـو مننـه، خـو مـا معـذور وګڼـۍ، زه دا ستر مسؤلیت په غاړه نه شم اخیستلی.

پاچا په قهر شوی، ورته یې ویلي دي، چې ولې ته لـه ګیـدړ نـه هم بدتر یې، هغوی ځپله دوره تېره کړه، ته یـې نـه شـې کـولی. خر ویلي، قربان دې شم، زه خر یم، پاچاهي زما صفت نـه دی، زه یـې نـه شـم کـولی، پاچـا بیـا پـه قهـر شـوی، نـور ځنـاور یـې رخصت کړي، خره ته یې ویلي، یوازې درسره خبرې کوم، نـور ځنـاور چـې وتلـي، پاچـا ځپـل نقـاب پورتـه کـړی، خـره تـه یـې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ویلي، بې غیرته خبرې مه کوه، ګوره، زه هم خر یم، وګوره، چې څنګه ښه پاچاهي کوم.

خر په خندا شوی، ویل، زما اول نه هم دربانديې شک ؤ، ځکه له فرمانونو نه دې مالومېده، چې ته زمری نه یې، څه کار دې کوه، ته ورک شې، فرمان دې ورک شي.

هر سړی پیدا دی خپل، خپل کار لره که نه.

ښه دې زموږ وي، بد دې د هغوی، ځئ! بچیانو زه هم ستړی یمه، ویده کېږم، ټولو وخندل او ترې بېرته راستانه شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د سوداګر هوښیاره لور

حضرت میر کاکا د معمول په څېر لکړه په لاس د جومات خوا ته روان دی، د کلي ماشومان او زلمیان چې د حضرت میر کاکا په کیسو مئین دي، ورته لاړ ښاري ګوري، چې حضرت میر کاکا لکړه په لاس په مـلا کړوپ کوڅه کې روان دی، هلکان ورپسې شوي، چې کیسه به راته وایي.

حضرت میر کاکا چې لاله پخوا د هلکانو په ذوق او شله توب ښه پوهېده، مجبور شو، چې بیا د ډېرې ته لاړ شي، لکړه یې پر ځمکه کېښوده او د ونې ډډ ته یې ډډه ووهله. ویل یې، بچو! کیسه درته کوم، خو ډېرې پوښتنې به نه کوئ.

هلکانو ورسره ومنله، ویل هله ژر شه، کاکا کیسه پیل کړه. حضرت میر کاکا غاړه تازه کړه! ویل، و، نه، و، یو سړی و،

(c) ketabton.com: The Digital Library



خدای ج ورته ښه پرېمانه شته ورکړي وو، د سړي یو زوی ؤ او یوه یې ښځه. زوی یې ډېر نازولی و، یوه ورځ سړي او ښځې یې په ګډه پرېکړه وکړه، چې یو نازولی زوی لرو، د هېڅ شي کمی نه لرو، باید ورته ښځه وکړو، ښځې یې ویلي دي، چې داسې ښځه باید ورته وکړو، چې همده غونډې له موره یوه او نازولې وي. مشوره یې کړې، چې د برکلي د سوداګر یوه لور ده او هغه هم نازولې، همغه به ورته وکړو.

د سوداګر پر لور جرګه شوي، سوداګر فکر کړی، چې لور مې نازولې او له موره یوه ده، هلک هم نازولی او له موره یو دی، راځه! همده ته یې ورکړ، دسمال یې ورکړی، سړي پر خپل زوی زېری کړی، چې ښځه مې درته وکړه، هلک ډېر هوښیار و، ځان سره یې سوچ کړی، چې مور او پلار مې په خپل سر داسې ښځه راته کړې، چې نه مې لیدلې نه یې پېژنم، باید د خسرګنۍ په باب مالومات ترلاسه کړم.

پلار ته یې ویلي، چې د څو ورځو لپاره چېرته د چکر لپاره په سفر ځم، د هلک مور و پلار چې هېڅکله یې هم د خپل زوی غوښتنې نه وې درک کړي، ورته اجاره ورکړه. هلک د خپل خسر کلي خوا ته روان شو، کلي ته چې ورسېد، ګوري، چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دېره کې يې خسر ناست دی، سلام يې واچوه، خسر يې پرې غږ کړی، چې هلکه راځه! چای وڅښه. خسر خو يې نه پېژنده، چې زوم يې دی، خو زوم يې خپل خسر پېژنده، خپله ښځه يې نه وه ليدلې.

هلک ويل، چای نه څښم، خو که اوبه وي څښم يې. اوبه يې څښلي، سوداګر ورته ويلي، ځوانه چېرته روان يې؟ هلک ويل، په مزدورۍ پسې وتلی يم، ډېر غريب يم که چېرته کار پيدا کړم. سوداګر ويلي، راځه! ما سره شه، زه اکثراً په سوداګريزو سفرونو بوخت يم، بس مېلمنو ته له کوره چای، ډوډۍ راوړه او تنخواه اخله.

هلک خو له خدايه همدا ساعت غوښته، ويل سمه ده، هلک سوداګر سره مزدور شوی، بس کله چې مېلمانه راشي، د سوداګر له کوره دېرې ته چای او ډوډۍ راوباسي. بله ورځ سوداګر په سفر وتلی، هلک ته يې ويلي دي، چې په مېلمنو دې پام اوسه، که راتلل، درنه خپه نه شي، هلک ويل په سترګو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د سوداګر پر لور یو بل ځوان هم مئین و، خو نجلۍ ورسره اړیکه نه درلوده، بلکه ورځ مئین تللی بازار ته، یو قیمتي ټیکری یې اخیستی، راغلی، د سوداګر کور یې تک تک کړی، مزدور وتلی، ګوري، چې یو ځوان دروازه ټکوي، له ستړي مشي وروسته یې ورته د چای او ډوډۍ ست کړی، مئین ویلي، ډوډۍ نه خورم، دغه سوغات د سوداګر ښځې ته ورکړه او ورته ووایه، یو څوک غواړي، په ولاړه درسره څو خبرې وکړي. مزدور تللی، د سوداګر ښځې ته یې د مئین سوغات ورکړی او د سوداګر غوښتنه یې هم ورسولې ده. د سوداګر ښځه دروازې ته وتلې، ګوري، چې نا اشنا ځوان ولاړ دی، له ستړي مشي وروسته ځوان ورته ویلي، تروري! زه ستا پر لور مئین یم، په دې هم خبر یم، چې هغه مو بل چا ته ورکړې ده، زه یو ارمان لرم، ما ته خو یې هسې هم نه راکوئ، خو که د پنځو دقیقو لپاره ما ورسره کېنوئ، یو څو خبرې مې پر زړه دي، هغه به ورته ووایم، نور به درنه ځم.

د سوداګر ښځه چې ټیکري ته ګوري، ډېر قیمتي ورته ښکاري، زړه یې نه کېږي، چې له لاسه یې ورکړي، بل خوا ته د ځوان غوښتنه هم ورته ډېره ناروا ښکاري. ښځې ویلي، زه

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو به دا هڅه وکړم، خو که لور مې ومني. مئين ورته ويلي، ته خو هڅه وکړه، کېدای شي موفقه شې. ښځې خپلې لور ته د ځوان غوښتنه رسولې، لور يې ډېره هوښياره وه، ورته يې ويلي: مورې! تا ته خو مالومه ده، چې زه دلته د بل چا امانته يمه، دا کار نه شم کولی، مور يې ورته ويلي، لورې، دا خو دومره خبره نه ده، څه خوري خو دې نه، پنځه دقيقې ورسره کېنه، نور يې رخصت کړه، لور يې ويلي، ښه دا خو ناړينه دی، که لاس راباندې واچوي؟

خو خير زه ورسره کېنم، په دې شرط چې سړی به په کټ کې ځان کلک تړي، ځکه لاس راباندې وا نه چوي، مور يې مئين ته د نجلۍ شرط ويلی، مئين ويلي، زه يې هر شرط منم. د سوداګر لور مزدور ياني خپل نامزاد ته چې لا يې نه پېژني ويلي، دا سړی ښه کلک تړلی شي که نه؟

مزدور ويلي، ولې نه، ويل يې وهلې يې هم شي که نه؟ د مزدور خو هسې هم ورته زړه ډک و، ويل يې ولې نه. وهل يې ما ته پرېږده، ځوان يې په کټ پورې کلک تړلی او مزدور ته يې امر کړی، چې په مرګ يې وواهه، چې بيا د چا د خور او لور هوا په سر ونه ګرځوي. مزدور هم ناراستي نه ده کړې،

(c) ketabton.com: The Digital Library



مئین یې په مرګ وهلی، له پښو یې غورځولی او د کټ سره یې دباندې ختا کړی دی.

مئین په ډېر سختۍ ځان خلاص کړی او د سوداګر له کلي نه یې پښې سپکې کړې دي، مزدور ځان سره فکر کړی، چې خوابښې مې خطا کاره ده، هسې نه بله ورځ منګی مات شي، سوداګر چې له سفره راغی، مزدور ورته ویلي، که مو اجازه وي، کور پسې ډېر خپه شوی یم، کور ته به لاړ شم، څو ورځې وروسته به راشم. سوداګر پیسې ورکړي، هلک یې رخصت کړی، هلک چې کور ته رسېدلی، ډېر خپه ناست دی، مور یې ترې پوښتنه کړې، ویل زویه! ولې خپه یې؟ هلک څه نه دي ویلي، خو مور ته یې همدومره ویلي، چې په دوو ورځو کې به راته واده کوئ، که نه، بښه به نه وي. دی خو هسې هم له موره یو او هغه هم نازولی و، کله یې غوښتنه ردېدله. کورنۍ یې ورته د واده بندوبست کړی، دوهمه ورځ یې ناوې راوستې ده. ګوري، چې د ناوې پر سر د هماغه ډبول شوي ځوان ټیکری دی. هلک فکر کړی، چې دا ټیکری څنګه له منځه یوسي، دواړه د چرګۍ اور ته ناست دي، ځانونه تودوي، هلک ورو د اور یوه سکروټه د ناوې د ټیکري پر پیڅکي

(c) ketabton.com: The Digital Library



اچولې، ټیکری سوځېدلی، ناوې چغې کړي، چې اخ ټیکری دې راته وسېزه، خاوند یې ویلي، ډېرې چغې مه وهه، ته چې داسې مور لرې، داسې ډېر ټیکري به در په سر کړي. ناوې پوهه شوې ده، چې خاوند خو مې راباندې پوه دی.

ډېره خپه شوې، خان سره یې فکر کړی، چې د خاوند له دې پیغوره ځان څنګه خلاص کړي، خاوند ته یې ویلي، مور پسې مې خپه شوې یم، ما بوزه پلار کره. هلک خپله ښځه خسر کره بوولې، خپله راغلی کور ته. مېرمن یې فکر کړی، چې خاوند یې د څه شي سره ډېره مینه لري او خوښېږي یې. مالومه کړې یې ده، چې خاوند یې آس ډېر خوښوي. پلار ته یې ویلي، راته یو ښه آس واخله. چون د پلار نازولې لور ده، پلار یې سمدستي ورته ښه آس اخیستی. ناوې د نارینه وو جامې اغوستې، تمبوزک یې وهلې، چې څوک یې ونه پېژني، په آس سوره شوې، د مېړه پر کلي ورغلې، ګوري، چې په دېره کې یې مېړه ناست دی، سلام یې پرې کړې، هلک چې آس ته کتلي، آس یې خوښ شوی، شاوخوا ترېنه تاو راتاو شوی، ښځې خپل غږ هم د سړو غوندې کړی، ویل یې ځوانه آس دې لکه چې ډېر خوښ شو، هلک ویل، هو! دا دې په څو

(c) ketabton.com: The Digital Library



اخیستی، ویل یې ما خو ډېر قیمت اخیستی، ستا به پرې وس ونه رسي، خو ځه، زه به یې ارزانه درکړم، چې آس دې خوښ شوی، نه غواړم ناهیلې دې کړم. ویل یې په څو؟

ویل، یې یو لک، هلک ویلي، والله وس مې نه رسېږي، ښځې ویلي، ځه چې ډېر دې خوښ شوی، یوه چپه راکړه آس واخله. هلک فکر کړی، چې یوه چپه نو څه ده. راځه ور یې کړه، شاوخوا یې کتلي، ګوري، چې څوک نشته، مخ یې وړاندې کړی، چپه یې ورکړی.

ښځه له اس نه راکوزه شوې، د آس جلب یې هلک ته په لاس ورکړی، په خپله بېرته پلار کور ته راغلې ده، سبا خپل د خاوند کور ته تللې ده، ګوري، چې خاوند یې آس، پرېمنځي او ګرد تربنه تاوېږي، ښځې ترې پوښتنه کړې، چې دا آس دې په څو اخیتسی؟ خاوند ورته ویلي، دا مې ډېر ګران اخیستی، ښه خدمت یې کوئ، چې درنه خوار نه شي، په خپله له کوره دباندې وتلی، ښځې په آس ایرې شیندلي، ښه یې خیرن کړی، مېړه یې چې راغلی، ګوري، چې آس ډېر خیرن دی، پر خپلې ښځې یې غالمغال کړی، چې دومره قیمتي آس خلک همداسې ساتي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښځې يې ورته ویلي، ځه ته چې دا چېې خلکو ته ورکوې، داسې آسونه به ډېر پیدا کړې، مېړه يې سترګې ټيټې اچولي، چې والله ښځه خو مې خبره ده، ډېر خړ شوی، ښځې ته يې ویلي، ولې دې داسې وکړل، ښځې ور ته ویلي، یوازې ښځې نه تېروځي، نارینه هم تېر وځي، دواړه په خندا شول.

حضرت میر کاکا په کړس کړس وخندل، ویل، ځئ! چې تاسې داسې ونه کړئ، زه به لاړ شم لمانځه ته!

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سپی د بازار، خر د دربار

په بر کلي کې د انځرګل د ځوانیمرګ زوی د دریېمې خیرات ؤ، حضرت میر کاکا د دسترخوان څنډې ته د خپل امسا په مټ د پښو په سر ناست ؤ، لاد وریجو غورې یې مخې ته نه و ایښود شوی، چې د کلي ځوانان پرې راټول شول او ترې یې د کیسې غوښتنه وکړه، حضرت میر کاکا غوسه شو ویل، ډوډۍ ته مې هم نه پرېږدۍ، ځئ! ورک شئ، کیسه میسه نشته.

د کلي ځوانان خو هم په ضد کې تر چا کم نه ؤ، د حضرت میر کاکا ځورول یې پیل کړل، حضرت میر کاکا یې تنګ کړ، هغه له اوږدې سا اخیستنې او اف ویلو وروسته ځوانانو ته د کیسې ویلو سر وخوزاوه، ځوانان ډاډه شول، غلي کېناستل. حضرت میر کاکا ډوډۍ وخوړله، د امسا په مټ پاڅېده او د کوز کلي پر لور روان شو، ځوانان بیا ورپسې شول، حضرت

(c) ketabton.com: The Digital Library



میر کاکا هم غوښته، چې لاره په همدې کیسې رالنډه کړي، ویل یې بچو!

و، نه، و، یو پاچا و، د نورو وزیرانو ترځنګ د عقل او دربار وزیر یې هم لره. یوه ورځ پاچا د عقل او دربار وزیر خپل حضور ته راوغوښت، داسې یوه پوښتنه یې ترې وکړه ، چې ځلور جزه یې لرل.

پاچا ویل، وزیر صیب! له اصل نه کم اصل، له کم اصل نه اصل، سپی د بازار، خر د دربار څوک دی، راویې ښایه؟ وزیر حیران شو، چې دا به نو څوک وي؟ ویل، حضور سلامت، ما ته یو کال وخت راکړه، د دغسې خلکو پېژندل کافي وخت غواړي. پاچا ورسره ومنله او یو کال وخت یې ورکړ.

وزیر عادي جامې واغوستې، خپله ښه یې بدله کړه او په ښار کې یې د زرګرۍ دوکان خلاص کړ، د زرګر دوکان مخې ته یو سپاهي به ناست و، زرګروزیر به کله کله سپاهي ته چای او ډوډۍ هم ورکوله، ښه کلکه اندېوالي یې ورسره جوړه شوه. پاچا یوه لور هم درلوده، چې ډېره پرې ګرانه وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پاچا خپلې لور ته ویلي ؤ، چې کله یې څوک خوښه کړه، پر ته له دې چې موقف او یا بل څه یې په پام کې ونیسي، هماغه ته به یې په نکاح کړي.

له ورځو نه یوه ورځ د پاچا لور بازار ته وتلې وه، د وزیر زرګر دوکان ته برابره شوه، د زرګر په دوکان کې یې د سرو زور غاړکۍ خوښه کړه، زرګر چې پخوا وزیر و، ښا ښسته ځواني هم درلوده، د پاچا لور په زرګر مئینه شوه، کور ته راغله، پلار ته یې وویل: بابا جانه! تا له ما سره یوه ژمنه کړې وه، هغه پوره کړه، پلار یې ویل: په سترګو لورې وایه څه درته وکړم؟ لور یې ویل: پلاره، تا راسره ژمنه کړې وه، چې هر څوک دې خوښه شوه، هغه ته دې په نکاح کوم.

زما زرګر خوښ شوی، پلاره ژمنه دې اوس پوره کړه. پاچا زرګر ځان ته غوښتی ورته یې ویلي، چې خپلې لور سره مې ژمنه کړې، چې هر څوک یې خوښه شي، هماغه ته یې په نکاح کوم. زما د لور ته خوښه شوې یې، غواړم په نکاح یې درکړم. زرګر ډېر خوشحاله شوی، چې ما له خدایه په هوا غوښته، خدای(ج) پر ځمکه راکړه، لنډه دا چې پاچا خپله لور زرګر ته واده کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



حضرت میر کاکا ستړی شو، د یوې ونې سیوري ته یې امسا پر ځمکه ښخه کړه او د ونې ډډ ته تکیه شو او یو سوړ اسویلی یې وویست، د ځوانانو تلوسه هم ، لاژیاته شوې وه، ټولو غږ کړ، ښه کاکا بیا څه وشول.

حضرت میر کاکا غاړه صافه کړه، ویل، یوه ورځ زرګر ناوخته کورته راغی، په وینو ککړ صندوق ورسره و، د حویلۍ په یوه کونج کې یې ښخوله، چې ښځه یې پرې راغله، ویل سړیه! ستړی مه شې، په دې صندوق کې څه دي؟ زرګر ویل، خیر یوسې، بس زما یو پخوانی عادت دا دی، چې څوک مې له پامه بد شي، له هغه نه سر غوڅوم، پنځو تنو چې راسره بد کړي وو، نن مې ترې سرونه غوڅ کړل، په دې صندوق کې مې اچولي، اوس یې ښخوم، خو ته به چا ته حال نه وایې.

ښځې هر څه زړه ته اچولي، چورت یې وهلی، چې دا خو په قاتل سر شوم، بله ورځ د پلار کور ته تللې، پاچا ترې پوښتنه کړې، چې لورې! زرګر سره دې ژوند څنګه تېرېږي؟ لور یې ورته ویلي، پلاره! له تا قربان شم، ما لویه تېروتنه کړې، هغه خو زرګر، نه قاتل دی، هغه بله ورځ یې هم پنځه تنه وژلي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



سرونه یې ترې غوڅ کړي، صندوق کې اچولي ؤ، او صندوق یې په حویلۍ کې ښخ کړی - پاچا په غوسه شوی، امر یې کړی، ویل یې، هله زرګر راولئ، سپاهي یې لېږلی، سپاهي چې د زرګر اندېوال هم و، زرګر پسې راغلی او په وهلو ډبولو یې پاچا مخې ته ودرولې دی. پاچا د عدالت وزیر غوښتی او د خپلې لور ټوله کیسه یې ورته کړې او بیا یې امر کړی، چې عدالت باید تامین شي، د عدالت وزیر پرته له دې چې د پاچا زوم وپوښتي او یا څه ثبوت لاسته راوړي، امر یې کړی، چې قاتل دې سر په دهر شی. زرګر چې د پاچا زوم دی او دمېرمنې په خبرو په قتل تورن شوی چغې او فریادونه یې کړي، چې د خدای(ج) په خاطر اول وګورئ، چې ما څوک وژلي، څه مې ښخ کړي، که مجرم وم، په دهر مې وځړوئ، پاچا ویلي، څوک دې ضمانت کوي، چې د پلټنې لپاره وخت درکړم.

زرګر غریب ټولو ته ځولۍ نیولې، چې د څو ساعتونو لپاره یې ضمانت وکړي، ترڅو خبره سپینه شي، خو هېچا یې هم ضمانت نه دی کړی، د ښار د کچنۍ لور غږ کړی، چې زه یې ضمانت یم، د کچنۍ لور د زرګر ضمانت کړی، پاچا امر

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړی، چې ټول لاړ شئ او هغه صندوق د همده په مخ کې وګورئ، چې د ده دا ارمان هم پوره شي.

هئیتان تللي، حویلۍ یې سپړلې ده، صندوق یې ویستلی، ګوري، چې په صندوق کې د وزوسرونه دي، زرګر پاچا ته ویلي، ګوره ما انسانان نه دي وژلي، وزې مې حلالې کړي، چې دا کوم قانوني جرم نه دی، خوښه مې چې پلورل مې او که خښول مې. پاچا خړ شوی، زرګر نه یې پوښتنه کړې، چې ښه نو په دې کار کې د ې څه حکمت ؤ؟

زرګر خپل نقاب لرې کړی، ویل، پاچا سلامت زه د عقل او دربار هغه وزیر یم، چې ستا د څلورو پوښتنو د ځوابونو لپاره مې در نه یو کال وخت اخیستی وو، ستا د پوښتنو ځوابولو وخت رارسېدلی دی.

تا ویلي و، چې له اصل نه کم اصل، له کم اصل نه اصل، سپی دبازار، خر د دربار څوک دي؟

له اصل نه کم اصل، ستا لور ده، ځکه چې د ښځې او خاوند ترمنځ د اعتماد فضاء موجوده وي او هر څه په پرده کې ساتل کېږي، ده زما پرده ونه کړه او د کور پټ راز یې افشا کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



له کم اصل نه اصله هغه د کچنۍ لور ده، چې زما هېڅا ضمانت ونه کړ، خو هغې خپله بزرګي وښوده او ما ته یې د نجات زمینه مساعده کړه.

سپی د بازار هغه سپاهي دی، چې زما په چایو او ډوډۍ خپله خېټه غټه کړې ده، خو مخکې له دې چې زما جرم ثابت شي او یا څوک ورته امر وکړي، زما نمک یې په سترګو کې نه و، په بد اخلاقۍ، وهلو او ډبولو یې تر تا راوستم.

او خر د دربار ستا د عدالت وزیر ؤ، څکه پرته له دې چې هغه زما جرم ثابت کړي، پر ما یې د اعدم حکم صادر کړ.

پاچا چک چکې کړې او د عقل وزیر ته یې شاباسی ووایه، چې رښتیا دې زما پوښتنې سمې ځواب کړې، باید مکافات شي.

ښه دې زمور شي، بد دې په دښمنانو پورې شي، ځئ! نور، بچو! خپلو کورونو ته، چې زه هم خپل لمونځ کوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دولت بابا

د اختر د لمانځه خطبه خلاصه شوه، ملا صاحب دعا وکړه او ټولو کلیوالو ته یې د اختر مبارکي وویله، لمونځ کوونکي پاڅېدل، یو بل ته راغاړې وتل، اختر مبارکي یې وکړه، سپین ږیري له جوماته راووتل، ځوانان او زلمیان له حضرت میر کاکا نه تاوېدل راتاوېدل او په باربار به یې ورسره اختر مبارکي کوله، حضرت میر کاکا خو له پخوا نه د ځوانانو، زلمیانو او ماشومانو په مزاج پوه و، ویل: بچو! د مطلب خبره کوئ، رانه څه غواړئ؟

ټولو په یوه غږ وویل: کیسه. حضرت میر کاکا وویل: په جومات کې د کیسې ویل ګناه لري، بچو راځئ! چې د کلي دېرې ته لاړ شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



حضرت میر کاکا مخکې شو، ځوانان او زلمیان ورپسې روان شول، په لاره کې د کلي ماشومان هم ورسره یوځای شول، په شورماشور سره یې خپل احساسات څرګندول.

زنده باد حضرت میر کاکا، حضرت میر کاکا مونږ ته کیسه وایي، بس په همدې شورماشور کې د کلي د ېرې ته ورسېدل.

حضرت میر کاکا خپله امسا پر ځمکه کېښوده، ونې ته یې ډډه ووهله، لاس یې پر ږیرې کش کړ، ویې ویل:

و، نه، و، دخدای(ج) کړه وو، خلک ساده وو، د بر کلي اوسېدونکي ډېر ساده وو، دولت بابا په دوی کې ډېر پوه سړی و، په کلي کې به چې هره ستونزه پیدا شوه، خلکو به پر دولت بابا غږ کاوه، چې ورحل یې کړي.

یوه ورځ یو هلک ونې ته ختلی و، بېرته کوزېدی نه شو، ډارېده، نارې سورې پیل شوې، خلکو ویل، هلې، دولت بابا راوغواړئ، چې د دې هلک د کوزولو څه چاره وکړي.

دولت بابا راغی، ګوري، چې هلک له ونې نه شي کوزېدلی، ډارېږي، خپل زوی ته یې وویل: لاړ شه، بچیه، زما رسۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



درسره راوړه، زوي یې منډې کړې، رسۍ یې راوړ، دولت بابا د رسۍ یو سر پورته ونې ته ورګزار کړ، هلک ته یې وویل: په دې رسۍ دې خپله ملا ټینګه وتړه.

ناستو ځوانانو او ماشومانو ورغږ کړ، ښه بیا څه وشول؟

حضرت میر کاکا غاړه تازه کړه، ویې ویل: هلک چې خپله ملا په رسۍ ټینګه وتړله، دولت بابا رسۍ کش کړه، هلک پړ مخې پر ځمکې راګوزار شو، سترګې یې سپینې لاړې، د هلک پلار خپل زوی کور ته ورساوه، دولت بابا نه یې مننه وکړه.

د هلک پلار په تمه وو، چې اوس به یې زوی خبرې وکړي، اوس به سترګې خلاصې کړي، خو هلک پر ځمکه دومره سخت لګېدلی و، چې ساه یې هماغه ساعت ختلې وه.

مور و پلار یې چیغې پیل کړې، ویل: آخ! زوی مو په لوی لاس مړ کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هلک مور ، پلاراوخلک، دولت بابا پسې راغلل، ویل: بابا دا دې څه وکړل، تا خو په لوی لاس زموږ زوی وواژه، دولت باباراغی، ګوري، چې هلک کې ساه نشته.

ځان یې ډېر سنجیده ونیوه، ویې ویل: ګورئ خلکو!

ما په دې رسۍ لسګونه، په کویه کې بند خلک ژوندي ویستلي، ددې هلک د کوزولو لپاره بله هېڅ لار نه وه، بس پوره به یې وه، همدومره یې آب و دانه په دا دنیا وه، دعا ورته وکړئ، که مو نورې خبرې وکړې، ګناه ګارېږئ؟

خلک چپ شول، ویل: بس پوره به یې وه، نو.

حضرت میر کاکا پاڅېده ویې ویل: بچو! پوهه ښه شی دی، ناپوهي بلا ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ګیدړه او سور لنډی

د معمول خلاف حضرت میر کاکا نن ډېر غوسه و، له کوره چې راووت، امسا په لاس، په ملا کړوپ، ډېرې خوا ته راغی، له ځانه سره یې ګیدړانو ته ښېرې کولې.

د کلي ځوانان او ماشومان بیا ترې راتاو شول، ویل: کاکا! ولې غوسه یې؟

حضرت میر کاکا ویل: بېګا ګیدړانو زموږ ټول چرګان خوړلي، ویم، چې دا ګیدړان به کله زما ګوتو ته راشي نو.

هلکانو بیا شور جوړ کړو، هله کاکا! موږ ته د ګیدړانو یوه کیسه وکړه.

حضرت میر کاکا غوسه و، ویل: نن مې طبیعت کیسې ته نه دی جوړ، بل وخت به یې درته ووایم، خو هلکان زورور شول،

(c) ketabton.com: The Digital Library



له ډېر ټینګار وروسته حضرت میر کاکا یې اړ کړ، چې کیسه وکړي، هلکانو ورته په ډېره کې څادر وغوړاوه، حضرت میر کاکا ډډه ووهله، ویل بچو! د ګیدړې او سور لنډي ډېره خوږه دوستي وه، ګیدړې سورلنډي ته ورور ویل او سورلنډي ګیدړې ته خور.

یوه ورځ دواړه په دښته کې روان دي، سورلنډي له ګیدړې نه پوښتنه وکړه، ویل: خورې څومره علم دې کړی دی؟

ګیدړې ویل: نیم علم مې کړی.

بیا ګیدړې له سورلنډي نه پوښتنه وکړه، تا څومره علم کړی دی؟

سورلنډي ویل: ما پوره علم کړی دی.

ګیدړې وویل: خیر ستا د علم په درناوي، ته مخکې شه او زه به درپسې روان یم، سورلنډی خوښ شو، ویې ویل: سمه ده، زه به په خپلې مشرۍ کې تا د ټولو ځناورو له ګواښه وژغورم.

همدې خبرو کې مخامخ ګوري، چې زمری راروان دی، سورلنډی وارخطا شو، چې اوس به څه کوو، ګیدړې ته یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وویل: خورې! زما پوره علم پسې مه ګرځه، درځه ته مخکې شه او له زمري نه مو خلاص کړه.

ګیدړې وویل: تا څنګه پوره علم کړی دی، اوس د ژغورنې څه لاره وسنجوه. سورلنډي وویل: دروغ مې ویلي وو، ما علم نه دی کړی، هسې جعلي اسناد مې جوړ کړي دي.

ګیدړې وویل: ما نیم علم کړی، خو سم علم مې کړی، راځه راپسې شه.

زمری چې ورنږدې شو، ګیدړې وویل:

زمونږه مشره!

د ځنګل پاچا!

اسلام علیکم!

زمری له ډېره قهره وغړمبېده، ویې ویل: تاسو څنګه جرات کړی، چې زما په سیمه کې زما له اجازې پرته تګ راتګ وکړئ، زمري د دوی خوړلو ته هسې پلمې لټولې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګیدړې وویل: زمونږ مشره، زموږ پاچا! تانه ځار شم، موږ بېګاه خپله، مرغان او چرګان ښکار کړي وو، په وېش کې سره نه جوړېدو، ما وویل: زه مشره یمه، زه به خپل مرغان وخورم، سورلنډی کشر دی، هغه چرګان وخوري، خو سورلنډی یې نه مني، راغلو، چې تا ته عرض وکړو، چې دا وېش ته موږ ته وکړې.

کیسې ته د ځوانانو تلوسه لازیاته شوه، ویل: ښه کاکا، بیا څه وشول.

حضرت میر کاکا په ږیرې لاس تېر کړ، ویل: بس! اوس د ګیدړې علم معلومېږي.

زمري په زړه کې وویل: راځه! لومړی به د دوی ښکار کړي چرګان او مرغان وخورم او بیا به دوی پسې تېر کړم، زمري وویل: دا پرېکړه تر هغې نه شي کېدای، چې ښکار شوي شیان رانه وړی.

ګیدړې وویل: قربان دې شم، هغه خو موږ په غره کې په یوه سوري کې پټ کړي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زمري وويل: راځئ! چې لاړ شو، هماغلته به پرېکړه وکړم.

ګيدړه مخکې ده، سورلنډی ورپسې دی او زمری د ټولو نه وروسته روان شوی دی، کله چې غره ته رسېدلي دي، ګيدړې ويلي: زمونږ پاچا! زمونږه مشره! په دغه تنګ سوري کې مو پټ کړي، که اجازه دې وي، سورلنډی به ولېږو، چې رايې وړي.

زمري وويل: سمه ده، سورلنډی دې لاړ شي.

سورلنډی چې په غار ننوتی، هماغلته غلی شوی، ګيدړې ويلي: زمونږ پاچا! نه پوهېږم، په سورلنډي څه وشول، چې رانغی، که اجازه دې وي، زه به ورپسې لاړ شم.

زمري وويل: لاړ شه!

ګيدړه هم په غار ورننوتې او هماغلته يې ځان غلې کړې ده.

زمري له ډېر انتظاره وروسته پوه شوی، چې ګيدړې ورسره چل وکړ، له قهره وغړمبېده، ډېر ګوابښونه يې وکړل، خو په سوري کې نه ځايېده، بېرته روان شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګیدړې سورلنډي ته ویلي: ګوره د نیم علم برکت څومره و، نور په جعلي اسنادو ځان د پوره علم څښتن مه معرفي کوه، ځکه چې ځای یې راغی، اسناد نه عمل په درد خوري.

حضرت میر کاکا وویل: بچو! هېڅکله هم په جعلي اسنادو ځان په پوهو خلکو کې مه شمېرئ، که نه په عمل کې به بیا ناکام یاستئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لړم او ځرمبنکی

خدای زده حضرت میر کاکا په چا غوسه و، ویل: مار ته په لستوڼي کې ځای مه ورکوئ، د لړم خوی چیچل دي، ځینې ناسپاسه خلک نه چلېږي.

بس امسا په لاس، په ملا کړوپ روان و او ځان سره یې خبرې کولې.

د کلي ماشومان او ځوانان چې ولیدل، حضرت میر کاکا په قهر دی، له یوې خوا او بلې خوا نه یې سلامونه شروع کړل، اسلام علیکم، بل به هم غږ کاه، اسلام علیکم!

حضرت میر کاکا په تنګ شو، ویل: وړو! تاسې ما ولې په کلاره نه پرېږدئ، نن تیک نه یم، کیسه درته نشم کولای.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو ځوانانو او ماشومانو ضد کاوه، چې کیسه به خامخا ورته کوي.

حضرت میر کاکا دا ځل د لارې پر سر کېناست، ویل: کینئ، چې د لړم او ښرمښکې کیسه درته وکړم.

د کلي هلکانو له ډېرې خوښۍ چیغې او نارې پیل کړې، راځئ! کاکا کیسه کوي، راځئ! کاکا کیسه کوي.

حضرت میر کاکا امسا پر ځمکه ښخه کړه، په ځمکه یې پلتۍ ووهله.

ویې ویل: غوږ شئ، وړو! د پند نه ډکه کیسه درته کوم.

هلکان ټول غلي شول، حضرت میر کاکا کیسه پیل کړه:

د لړم او ښرمښکې سره دوستي وه، یو له بله به ځارېدل، ښرمښکې به چې څه د خوراک لپاره پیدا کړل، لړم سره به یې د الله(ج) په توه نیماوه.

یوه ورځ دواړه په سفر راووتل، په لاره کې روان دي، هر یو د خپلې دوستۍ لاپې کوي، مخامخ ګوري، چې سیند دی، لړم

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځرمښکۍ ته وویل: چې زه خوخ له سیند نه نشم تېرېدلی، څنګه به شي؟

ځرمښکۍ وویل: زه درسره یم، چورت مه خرابوه، راځه! زما پر سر کېنه، زه به دې پورې باسم.

لړم د ځرمښکۍ پر سر کېناست، پر سیند ورګډ شول، د سیند نیمايي ته چې ورسېدل، لړم ځرمښکۍ ته ټک ورکړ، ځرمښکۍ فکر وکړ، چې د لړم به پام نه و، خیر دی څو شېبې وروسته بل ټک یې ورکړ.

ځرمښکۍ وویل: لړمه! دا څه کوې؟ زما پر سر سپور یې او ټکونه راکوې؟

لړم وویل: څه وکړم، ټک ورکول، چیچل او نېش مې عادت دی، له خپل عادت نه مجبور یم.

ځرمښکۍ وویل: ښه، داسې ده.

له ځان سره یې وویل: څوک چې د ښو په قدر نه پوهېږي، باید پرېښودل شي، ویې ویل: زه هم د غوپې وهلو عادت لرم، په سیند کې یې غوپه وهلې، لړم د سیند څپو راخیستی، چې هر

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځومره چیغې یې کړي، ویل: سهوه رانه شوې، بیا به نه کوم، څرمښکۍ سیند نه پورې وتی او لږ هماغلته مړ شوی دی.

حضرت میر کاکا دا وویل او بیا یې په هلکانو غږ وکړ، ګورئ وړو! چې لږ خویه خلکو سره دوستي ونه کړې، ځکه چې یوه ورځ نه یوه ورځ درته تک درکوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د صبر مېوه خوږه وي

د کلي کوزه کوڅه کې شر وشور شو، حضرت میر کاکا جومات ته روان وو ،ماشومانو منډې وهلې ویل ،جنګ دی، هلی، راځئ چې لاړ شو.

حضرت میر کاکا ته هم سودا پیدا شوه چې څه خبره به وي، کوزی کوڅې ته ورغی ،ګوری چې جنګ له بد ګماني څخه رامنځته شویدی، چورت ورغی ویل هلکانو :جنګ خلاص شو، ماشومانو چیغه کړه : هو کاکا، خو کیسه به څنګه شي، حضرت میر کاکا ځای پرځای خپل امسا کېښوده د کوڅې دېوال ته یې ډډه ووهله ،وېل راځئ بچوا د پند نه ی ډکه کیسه درته کوم، ماشومان له خدایه همدا ساعت غوښتل ټولو چېغی کړې ،هلی راځې ،کاکا کیسه وایي، کاک کیسه وایي، په یوساعت کې ګڼ ماشومان او ځوانان سره ورټول شول، د حضرت میر کاکا په شاوخواکې یې پلتی ووهلې، ویل : هله ژرشه کاکا کیسه وکړه.

حضرت میرکاکا موسکی شو ویل بچوا وه نه وه یوه پاچا وه، له ورځونه یوه ورځ د خپلې ټولې کورنۍ سره د ښکار

(c) ketabton.com: The Digital Library



لپاره ځنګله ته تللی و، کری ورځ یې په ښکار تېره کړه،ماښام چې بېرته ستنېده ،ګوري چې ځوانه لور یې نشته.

پاچا پلټنې پیل کړې،ځنګل یې ټول ولټاوه ،خپله لور یې پیدا نه کړه ،مایوسه کورته لاړ،د پاچا لور لاره غلطه کړې وه،کوم جومات ته ننوتې وه،ګوري چې په جومات کې یو طالب هم شته،طالب هم ښه دنګه بنګه ځواني لري،د پاچا لور د جومات په یو کنج کې غلې کېناسته،وېرې نیولې وه،لاسونه یې یوبل کې مروړل،له یخنۍ نه یې شونډې رېږدېدې،طالب به دسترګو په کنج کې په غلاغلا ورو ورو ورکتل،شیطان به یې ګناه ته هڅوه،په جومات کې یوه شمع هم روښانه وه،طالب له ځان سره فکر وکړ که زه دې جلۍ سره بد کار وکړم،په دوزخ کې به وسوزېږم،ایا زه د اور طاقت لرم که نه،په شمعه یې ګوته ونیوله ،وبه سوځېده له ځان سره به یې ویل :د شمعې داور زور نه لرم ،ددوزخ اور به څنګه وزغمم،ساعت وروسته به بیا شیطان ګناه ته وهڅوله بیا به یې ګوته شمعې ته ونیوه ،خو طالب په شمعې د ګوتې په سوځولو ،شپه په ویښه تېره کړه ،سباد پاچاسپاهیانو ښار لټ په لټ کړ ،ګوري چې نجلۍ جومات کې وه،نجلۍ یې پاچاته

(c) ketabton.com: The Digital Library



راوستې، پاچا ډېر خوښ شوی چې ورکه لوریې روغه رمته په لاس ورغله، سپاهیانوپاچا ته ویلې، پاچا سلامت نجلۍ چې کوم جومات کی شپه کړې ،هلته یو ځوان طالب هم وو، پاچا ته په زړه کې شک لویدلی چې لور سره یې کوم بد فعلي نه وي کړی ،حضرت میر کاکا لږ مکس وکړ ،چپ شو ،ښایي د ماشومانو تلوسه یې معلوموله، ماشومانو چغې کړی، ښه کاکا بیا څه وشول، طالب یې مړ کړ؟

حضرت میر کاکا بیا غاړه صافه کړه ویل، پاچا سپاهیان ولیږل ،ویل طالب راولې ،سپاهیان لاړل، طالب یې لاس تړلی پاچاته راوست، پاچا ویل ، ده زما لور سره شپه کړې ،بد فعلی یې کړی، په دار یې کړئ، طالب ډېر فریادونه وکړل ،ویل زه بې ګناه یم، زما خبره واورئ، پاچا ویل، وروستۍ خبره دې کوه، نور دارته اماده اوسه، طالب دشپني کیسې ټول جریات پاچا ته بیان کړی او ورته یې ویلي دي چې ځان یې څنګه کنترول کې ساتلی دی، طالب ویل که زه دروغ وایم له خپلې لور نه پوښته وکړئ، پاچا چې له خپلې لور نه پوښتلي ،لوره یې هم کیسه کټ مټ لکه طالب ورته بیان کړې ورته ویلي چې طالب رښتیا وایي، هر ځل به یې چې ماته

(c) ketabton.com: The Digital Library



وکتل، ګوته به یې په شمعې وسوځوله ،ترسهاره. پاچا چې د طالب په سپېڅلتیا ،پاک لمنۍ اوصبر ښه باوري شو، اعلان یې وکړ چې خپله لورپه شرعی نکاح دغه پاک لمن ځوان ته ورکوي، هماغه وو چې شهنایي غږول شوې د پاچا لور طالب ته په نکاح شوې ، ګورۍ بچو د صبر مېوه خوږه وي، ځې نور خپلو کورونو ته ،زه به لاړشم جومات ته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# کبر او لويي

حضرت میر کاکا ایله د ناروغۍ له بستره تازه پاڅېدلی و، لکه چې زړه یې تنګ شوی و، غوښته چې د کلي د بېرې ته لاړ شي او د خلکو سره په خبرو خپل فکر د ناروغۍ له ګوابښه وژغوري، په ملا کړوپ، امسا په لاس زنګېدلی روان و، د کلي تنکي ځوانان او ماشومان، چې د حضرت میر کاکا کیسو ته ډېر لېواله وو، د حضرت میر کاکا له ناروغۍ خبر وو، دعاګانې به یې کولې، چې حضرت میر کاکا به کله خدای(ج) روغ کړي او موږ ته د پند نه ډکې کیسې واوروي.

دوی به تل د حضرت میر کاکا د انګړ دروازه څارله، نن نو د کلي پر ځوانانو او ماشومانو سم اختر و، کله چې د دوی سترګې پر حضرت میر کاکا ولګېدې، ټولو منډې کړې، یو غږ شو، اخ شکر، حضرت میر کاکا راووت، لکه چې ښه شوی دی. که څه هم حضرت میر کاکا د کلیوالو ځوانانو او

(c) ketabton.com: The Digital Library



ماشومانو له شوخو حرکتونو تنګ و، خو د ناروغۍ د بستر یوازیتوب یې پر ذهن اغېز کړی و، دی هم په کلیوالو پسې خپه شوی و، د کلي ځوانان او ماشومان د حضرت میر کاکا مخې ته ودرېدل، چا یې لاسونه ښکل کړل او چا هم یوائې په سلام اچولو ځانونه تسکین کړل، ټولو بیا ټینګار وکړ، چې کیسه مو ږ ته ووایه، ښه شو، چې خدای(ج) روغ کړې.

حضرت میر کاکا هم د دوی په ضدي خویونو پوه و، پوهېده، چې ترې نشم خلاصېدلی، ویې ویل: وروا ما دومره پرېږدئ، چې د ېرې ته ورسېږم، هلته به درته کیسه ووایم، ټول د ېرې ته لاړل، حضرت میر کاکا خپله امسا پر ځمکه ښخه کړه او د ېرې د توت غټې ونې ته یې ډډه ووهله. یو سوږ اسوېلې یې وکړ: هی ناروغۍ! څومره ناځوانه یې، دا دومره ورځې دې له خپلو کلیوالو بیل کړی وم، د ځوانانو او ماشومانو نور صبر نه کېده، ویل، کاکا کیسه وکړه، چې ستا په کیسو پسې خپه شوي یو، حضرت میر کاکا وویل: په دې شرط درته کیسه کوم، چې ناروغي مې په پام کې ونیسئ او بله کیسه رانه ونه غواړئ، ټولو ورسره ومنله، سمه ده، بله نه غواړو، حضرت میر کاکا وویل: بچو کبر او لویې ښه نه دی، هغه مو نه دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوربدلي، چې خدایه لوی مې کړې، لویي را مه کړې. ځوانانو او ماشومانو په یوه غږ وویل: هغه څنګه؟

حضرت میر کاکا کیسه پیل کړه:

د اته ویشت کلونو ځوان وم، یو په عمر پوخ سړی، چې یوه سترګه یې ړنده وه، زموږ دروازه وټکوله، چې راووتم، په ډېرې عاجزۍ یې راته د سوال لاسونه اوږده کړل، ویې ویل: د خدای(ج) په رضا څه راکړه، چې هېڅ هم نه لرم، ما چې سړي ته وکتل سوالګر راته نه معلومېده، ما وویل: ماما سوالګر خو راته نه معلومېږې، کومې مجبورۍ په مخه کړې یې، چې سوال کوې، نوم دې څه دی؟

سړي وویل، وروره! سوالګر نه یم، ټول عمر کې مې سوال نه دی کړی، کبر مې کړی و، خپل کبر دې حالت ته رارسولی یم. ما وویل: هغه څنګه؟ ویل: د غره په لمنه کې مې کور و، په مټ قوي او د څو ځوانو زامنو پلار وم، لمسیان مې و، ژوند مې جوړ و، یوه ورځ په انګړ کې ناست وم، په زړه کې مې وګرځېدل، چې اوس نو په چم ګاونډ کې مې هېڅوک هم له زوره نه دي، که چا هسې په برندو سترګو هم راسره خبرې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وکړې، سترګې به یې وباسم، لویې مې په زړه کې ځای ونیوه او کله نا کله به مې ګاونډیان هم ځورول.

زه لا د همدغسې کبر او لویې په چورت کې ډوب وم، چې لمسی مې راغی، راته یې وویل: بابا ما ته ښکار وکړه، ټوپک مې راواخیست، لمسی مې له لاسه ونیوه، د بېدیا خوا ته روان وم، سترګو مې ښکار خارله، چې کله به مې مخې ته راځي او زه به پرې ډز کوم.

ناڅاپه توپان راغی، باران او ږلۍ هم ورسره مله وه، داسې توپان چې په یوه ساعت کې یې هر څه تالاترغۍ کړه، ما مې خپل لمسی غېږ کې ټینګ ونیو، د یو موړ لاندې مې ځان پټ کړ، لږ ساعت وروسته چې مې کتل ټول کلی مو سېلاب وړی و، اولادونه او ټوله کورنۍ مې مړه شوې وه او تر د کاله خوا ته روان شوم، هوسۍ مې مخې راغی، ما وویل: هسې هم غم درباندې راغلی، لمسی ته دې ښکار خو وکړه، په هوسۍ مې ډز وکړ، هوسۍ ولګېده، منډه مې کړه، چې پورته یې کړم، ګورم خپل لمسی مې ویشتی دی، نور نو غم راباندې دومره غلبه وکړه، چې د ځان وژنې اراده مې وکړه، ټوپک میل مې ځان ته راواړوله، په ځان مې ډز وکړ، په سترګه ولګېدم، په

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځان پوه شوی نه یم، یو وخت مرستندویان راغلي و، زموږ مړی یې ښخ کړی او د زه یې روغتون ته رسولی وم.

اوس تازه له روغتونه راوتلی یم، اوتر یم، د ژوند په کولو نه پوهېږم، د ژوند لاره مې ورکه کړې ده، مجبور شوم، چې د ژوندي پاتې کېدو لپاره سوال وکړم، دا یې وویل او سترګې یې له اوښکو ډکې شوې، په ژړغوني غږ یې وویل: کبر ښه نه دی، الله(ج) متکبر انسان نه بخښي او ډېر ژر ورته جزا ورکوي، لکه زما په شان، ما ورته له کوره څه نا څه خوراکي توکي او اغوستو شیان راوویستل او ورمې کړل، ما وویل: په رښتیا چې کبر ښه نه دی، نو بچو! پام کوئ، چې کبر ونه کړئ، الله(ج) کبرجن نه بخښي.

حضرت میر کاکا کیسه خلاصه کړه، جومات خوا ته روان شو او د کلي ځوانان هم ورسره سرونه خوځول، هر چا به ویل: خدایه له کبره مې وساتې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# بې ځایه لاپې

د معمول خلاف حضرت میر کاکا د کلي د پرورو پیتاوي ته ډېره وهلې وه، خپلې اوبښکې یې پاکولې، ماشومانو او ځوانانو چې ولیدل، حضرت میر کاکا پیتاوی کوي، بیا سره ډله شول، پیتاوي ته ورپسې راغلل، ټولو لیدل چې حضرت میر کاکا ژاړي، ماشومانو ورسره ټوکې پیل کړې، چې طبیعت یې ښه شي او ورته کیسه ووایي، خو د حضرت میر کاکا تبعه نه ښه کېده، د کلي ماشومانو ته یې ویل: نن مې په کلاره پرېږدئ، زړه مې خپه دی، زړه مې نه غواړي، کیسه درته وکړم. ماشومانن ویل: کاکا کیسه موږ ته وکړئ، چې ستا هم زړه سپک شي او زموږ تنده هم ماته شي.

حضرت میر کاکا ضد کاوه، چې کیسه نه کوي، زلمیانو او ماشومانو راتنګ کړ، ویل یې خیر راته ووایئ، چې ولې خپه یې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



ماشومانو په یو غږ وویل: ولې خفه یې؟

حضرت میر کاکا اوښکې پاکې کړې، په سپینه په ږیره یې لاس راتېر کړ، غاړه یې صافه کړه، ویل یې: وړو! مه مې په عذابوئ.

خدای‌ج خبر څه خبره به د حضرت میر کاکا په ذهن کې ګرځېدلې وي، چې تبعه یې ختمه وه، خو ځوانانو او ماشومانو په ټوکو ټوکو حضرت میر کاکا دې ته اړ کړ، چې کیسه وکړي، ویې ویل:

و، نه و، یو ښکاري و، ښکاري ته د چکر شوق ورغی، فکر یې وکړ، چې بل ولایت ته خپل دوست کره به ورشي، ښکار به هم وکړي او ساعت به یې هم تېر شي، له خپل ولایت نه بل ولایت ته ځي، د شپې ناوخته د خپل دوست کور ته رسېږي، دوست یې ډېر خوشحاله شي، چې ښکاري دوست مې راغلی دی، خو څه چې تیار وو، هغه یې ورته اېښې دي، ډوډۍ خوړل شوې، شپه تېره شوې، ښکاري خپل دوست ته ویلي، چې ګوره د غرمې لپاره څه مه تیاروه، زه غره ته ځم، ښکار کوم، هماغه به غرمې ته وخورو، هغه ویل: سمه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښکاري غـره تـه تللـی، غرمـه شـوې، ښـکار یـې نـه دی پیـدا کړی، سخت وږی شوی دی، فکر یې کړی، چې د دوست کره ځنګه په دې خجالتۍ کې لاړ شي، فکر یې وکړ، چې راځه! سیمه پرېږده، په بل چا غرمه واړوه.

یوې دېرې ته برابر شوی، ګوري، چې یو دهقان لور په لاس په دېره کې خپه ناست دی، سلام یې اچولی، ویلي یې دي، کاکا ولې خپه یې؟ ویل غوا مې مرداربږي، زه په تمه ناست یم، کـه جوړه نه شي حلالوم یې.

ښکاري ویلي، ډېر وږی او سخت ستړی یم، که لـه کوره لـږه ډوډۍ راته راوړې، خوښ به شم، دهقان ویل: غوا مې ناروغـه ده، که زه کور ته لاړ شم، غـوا بـه مـې مـرداره شـي، بیـا بـه څـه کوم.

ښکاري وویل: کاکا ډېر وږی یم، لور ته ما ته راکـه، زه بـه یـې پیره وکړم، که مرداربده، حلاله به یې کړم، دهقان ویلي، سمه ده. کورته د ډوډۍ پسې تللې، ښکاري لور په لاس ناست دی، له ډېرې ستړیا خوب وړی دی، یو وخت پړتکې شوې، ګوري، چې غوا مرداربږي، دی خو خوبولی دی، لـور یـې کـش کـړی،

(c) ketabton.com: The Digital Library



غوا یې حلال کړی، چې سترګې یې مښلې، ګوري چې غوا مرداره شوې او خر یې حلال کړی، فکر یې کړی، که دهقان مې وګوري، والله که یې له غمه خلاص شم، دوه خپلې او دوه پښې یې قرض کړي او تښتېدلی دی.

بل کلي ته رسېدلی، ښکاري سخت ستړی، وږی او بې خوبه دی، ګوري، چې یوه زړه ښځه د بام پر سر ناسته ده، ستنه ورسره ده، د وړیو تار اوبي، سلام یې کړی، ویې ویل: ابۍ! ډېر وږی یم، که لږه ډوډۍ راته راوړې! ابۍ ویلي، ولې نه بچیه! خو زما دا چرګه او چرګوری ګورې، دې ته ناسته یمه، چې باښه یې رانه یونسي، ښکاري ویل: ابۍ جانې! هغه ماته پرېږده، زه یې پهره وکړم، خو ډېر وږی شوی یم، ډوډۍ راته راوړه، چې له لوږې مرم. ابۍ تللې، ډوډۍ پسې، ښکاري له ډېره احتیاطه چرګوړی او چرګه په یوه تار کې سره تړلي، بیا خوب پرې غلبه کړې، خوب وړی دی، باښه راغلې، چرګه یې له چرګوړو سره وړې، پړتکې شوې، چې ښکاري پاڅېدلی، ګوري، چې چرګه او چرګوړي د باښې په پنجو کې په هوا کې ځوړند دي، فکر یې کړی، که ابۍ راشي، څه ځواب ورته ووایم، منډه یې اخیستې، د بل چا کور ته ننوتی، ګوري، چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



هېڅوک هم پکې نشته، تش کندو پکې ایښی، په کندو کې پټ شوی، یو وخت ګوري، چې د کور خاوند له ژرندې اوړه راوړي، فکر یې کړی، چې راځه! دا اوړه په کندو کې ځای پر ځای کړه، چې اوړه یې اچولي، کندو ژر ډکه شوی، خپلې ښځې ته یې ویلي، دا کندو څنګه ژر ډک شو؟ ښځې ویلي، تخته یې کړه. ښکاري فکر کړی، چې اوس وژل کېږم، خیز یې کړی، چې له کندو ووځي او وتښتي، د کور څښتن نیولی دومره یې وهلی، چې د بوسو خوسکی یې ترې جوړ کړی، ښه یې زموږ، بد یې د نورو.

حضرت میر کاکا زلمیانو ته وویل، چې ګورئ بچو! بې ځایه لاپې به نه کوئ او د یوې تېروتنې د پټولو لپاره به بله تېروتنه هم نه کوئ، که نه ښکاري غوندې به مو انجام وي.

ځئ! خپلو کورونو ته، زه به لاړ شم، جومات ته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# هر څه د املوکو په تول

حضرت میر کاکا لـه جوماتـه راووت، لـه ځانـه سره خانـدي او بوڼېږي، په ملا کړوپ د امسا پر مټ د ډېرې خوا ته روان دی، اخوا د ډېرې خوا هم ګوري، چې که دا د کلي ماشومان پیدا کړي، چې ورته کیسه ووایي، نن یې تبعه ښه وه، خپله یې غوښـته چې ماشـومانو تـه کیسـه ووایـي، د کلـي دوکـانونو تـه چـې ورسېد، ماشـومانو ولیـده، ټولـو پـه یـو غـږ وویـل: بابـا سـلام علیکم!

حضرت میر کاکا وویل: وعلیکم سلام، وړو! خوښه مو نـه ده، چې درتـه یـوه کیسـه پـه خپـل زړه ووایـم؟ ماشـومانو لـه ډېـرې خوښۍ نه ټوپونه ووهل، ویې ویل: کاشکې! بابا ووایه که نه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



حضرت میر کاکا ویل، راځئ! دېرې ته، خو بیا یې د معمول په څېر امسا پر ځمکه ښخه کړه، د دېرې د توت ونې ته یې ډډه ووهله، ویې ویل:

وو، نه، و، یو پاچا و، په خپلې پاچاهۍ کې یې زړه تنګ شوی و، خپل وزیر سره یې مشوره کړې وه، چې د تفریح لپاره کوم بل هېواد ته لاړ شي، دواړه یو بل هېواد ته لاړل، په ښار کې ګرځېدل، چې هر څه به یې بیه کول، چارک په دوه روپۍ وو، سره زر هم چارک په دوه روپۍ، املوک هم چارک په دوه روپۍ، پاچا خپل وزیر ته ویلي، چې والله ښه هېواد دی، هر څه چارک په دوه روپۍ دي، چې همدلته پاتې شو، ښه به وي.

وزیر هوښیار وو، ویل: دلته ارزښتونه نه دي مهم، هر څه په دوه روپۍ دي، له دې ښار نه پښې سپکول په کار دي، خو پاچا د وزیر خبره نه ده منلې، وزیر تللی خپل هېواد ته، پاچا په همدې ښار کې پاتې شوی.

د شپې په یو کور غل اوښتی، د کور خاوند پرې ویښ شوی، غل په دېوال ختلی، ځان یې دباندې غورځولی، پښه یې ماته شوې، عریضه یې کړې، چې ما غلا کوله، د کور خاوند

(c) ketabton.com: The Digital Library



راباندې ویښ شو، له دېوال نه لاندې وغورځېدم، پښه مې ماته شوه، کور والا باید ځواب ووايي. قاضي تللی، د کور خاوند یې راغوښتی، ورته یې ویلي دي، چې ولې دې دېوالونه دومره جګ جوړ کړي، چې غل ترې لوېدلی، پښه یې ماته شوې، اوس یې ځواب ووايه. د کور خاوند ویلي صاحبه! ما خو نه دی جوړ کړی، ختګر جوړ کړی.

قاضي امر کړی، ختګر راولئ، سپاهي تللی ختګر یې راوستی، هغه ته هم قاضي ویلي، ولې دې دېوال دومره جګ جوړ کړی، چې د غله پښه پکې ماته شوه؟ ختګر ویلي، قاضي صاحب! زه څه ملامت یم، یوې پېغلې له کړکۍ راکتلې، پام مې نه و، دېوال رانه جګ شو، قاضي وویل: ختګر پرېږدئ، نجلۍ راولئ.

سپاهي تللی، نجلۍ یې حاضره کړې ده، قاضي ورته ویلي، وه نجلۍ! تا ولې له کړکۍ کتلي، چې د ختګر پام دې ځان ته واړاوه، هغه دېوال جګ جوړ کړ، غل له دېواله وغورځېد، پښه یې ماته شوه، اوس یې ځواب ووایه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پېغلې ویلې: قاضي صاحب! زما څه ګناه ده، دروازه ټک ټک شوه، ما ویل، له کړکۍ به یې وګورم، که خپل و، دروازه به خلاصه کړم، که پردی و، نه به یې خلاصوم، چې ومې کاته پردی و، خلاصه مې نه کړه. ویل یې څوک و؟ ویې ویل: لوړ دنګ سړی و، ما څه پېژانده.

قاضي امر کړی، هلئ! چېرته چې لوړ دنګ سړی و، هغه راولئ. سپاهي په ښار کې ګرځېده، پر پاچا یې سترګې لګېدلې، چې ګوري لوړ دنګ سړی دی، بس سړی یې مخکې کړی، نېغ یې قاضي ته ودرولی دی، قاضي سړي نه پوښتنه کړې، چې غل دغسې عریضه کړې ده او بالاخره ننبه تر تا رسېدلې، تا ولې هغه دروازه ټکولې ده، چې له امله یې نجلۍ په کړکۍ کې کتلي، ختګر نجلۍ لیدلې د ېوال ترېنه جګ شوی او غل له د ېواله غورځېدلی، پښه یې ما ته شوې ده.

سړي ویلي: قاضي صاحب! ما د هېچا دروازه نه ده ټکولې. قاضي ویلي: د کور خاوند ویلي، چې لوړ دنګ سړی و، لوړ دنګ سړی خو ته یې! سړي چې هر څومره زارۍ کړي دي، قاضي حکم کړی، چې اعدام دې شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د اعدامېدو پرمهال وزیر پرې پېښن شوی، ګوري، چې پاچا اعدامېږي، ویل یې، پاچا صاحب! دا ولې؟

پاچا ویلې، تا رښتیا ویلي وو، چې دلته ارزښتونه نه دي معلوم، هر څه د املوکو په تول دي، اوس مې خلاص کړه، توبه بیا به نه راځم، وزیر ورته ویلي: کار دې کوه.

((ما درته ویل، نه دې منله

د کونډې زویه اوس وهه د ډاک مزلونه))

حضرت میر کاکا کړس کړس په خندا شو، ویل یې: ځئ! ورو، د خدای(ج) په امان، نور مې مه په عذابوئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مننه او کور ودانی

د افغانستان ملي تحریک د هېواد پال او فرهنګپال شخصیت ښاغلي (میرویس یاسیني ) څخه د زړه له تله مننه کوي چې د دې اثر چاپ ته یې اوږه ورکړه. ملي تحریک ویاړي چې د علمي اثارو د چاپ لړۍ یې پیل کړې ده. دا لړۍ به دوام لري. موږ له ټولو درنو هېوادوالو څخه په خورا درنښت هیله کوو چې په خپل معنوي او مادي وس د کتابونو د چاپ دا لړۍ لا پسې وغځوي.

یو ځل بیا د دې اثر له لیکوال او چاپوونکي څخه د زړه له تله مننه کوو چې د دې اثر د لیکلو او چاپولو جوګه شول.


په فرهنګي مینه


د افغانستان ملي تحریک


(c) ketabton.com: The Digital Library




## د ليکوال چاپ اثار




د خپرونو لړ: ۷۵

د افغانستان ملي تحريک

www.melitahrik.com

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**